خلق

د ثور انقلاب ۱۳۵۷
د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

مرغلره

کیکونکی: جان شتاین بک

ژباړونکی: انجنیر محمد نبي

پښتو ټولنه، کابل ۱۳۵۷

د پښتو ټولنې دخپرو نو
پر له پسې نمبر «۲۴۰»

PROPERTY OF
ACKU
5697

مرغلره

لیکونکی : جا ن شتا ین بک

ژباړونکی : انجنیر محمد نبی

مهتمم : غلام فاروق

دچاپ شمېر : ۱۰۰۰ تو که
۱۳۵۷ - وږی

سریزه

داداستان‌چی دسرغلری‌په‌نامه ستاسی مخی ته‌پروت دی دنړی دمتمدني‌منطقی دیوې غربی طبقی‌سرګذشت دی له‌کب نیو و نکو او صدف لټو و نکو څخه عبارت دی چی‌څرنګه په‌یوه طبقا تی‌ټولنه کی چی طبقا تی ستم سرپه اقتدار وی‌دژو ندپه‌ټولو کارو کی‌له هرډول نو رو ستمو څخه کار اخستل کیږی‌او حتی دژو نداو سرګ‌په‌وخت کی‌یې‌هم کارکو و نکی‌خپلی‌طبقاتی‌ګټی‌په‌نظر کی نیولی‌وی

د ا ستا ن که هرخوک په غور سره‌وګورې دا به‌و رته معلومه سی‌چی ولی دیوه تورېږی او دهغه د و اړه ما شوم سره‌داسی‌غیر انسانی‌بڼه و ضعه کیږی حال داچی هغه کوچنی ماشوم هیڅ جرم نه‌لری که‌هرڅه‌جرم

دی په هغه ټولنه او جامعه کی دی چی دی په کی پیدا شوی دی او نه یی پلار پر ته له کار او
بوسی توب څخه کوم بل جرم لری ، بنار د سمندر په غاړه په خلیج باندی پرو ت دی
او د سمندر په غاړه باندی ډیر کلک ، پا خه او پلسترشوی کو رونه ابادشوی،
د خلیج په غاړه د ما نکرو زونی ولاړی دی . د بنار ښی اړخ ته د کب نیو و نکو او
صدف ټولو و نکو څپری پر تې دی چی په منځ کی یې کشتی ځای په ځای شوی دی .
کینو د خدای په دی لو یه نړۍ کی یو ه کشتی لری چی هغه هم له خپل پلار څخه
و رته پا ته شوی د ه ، کینو سها رو ختی له خو به را پو رته شو د خپلی څپری
مخی ته د پراخ خلیج په هوا رو او بو با ندی د لمر د ژ بړو شغلو سیل کوی
د دی منظری له لیدلو و رو سته کینو خپلی څپری ته ننو وت که گو ری چی
د کینو د زوی په زانگو با ندی یو غټ او بدشکله لړم د ماشوم خواته را رو ان
دی. کینو کوشش و کړ چی لړم و نیسی خو لړم د کینو د زوی کو یتیتو
زا نگو ته و رو لو بده او هغه ماشوم یې و چیچه و ا ړه ماشوم په ژ ړا پیل و کړ
چی شا و خوا ټول گاو نډیان یې په ژ ړا باندی را خبر شول او د کینو څپری ته
را غلل ، چی څه پیښه ده، ټول گاو نډیان خبر شول چی د کینو زوی لړم چیچلی
دی د کینو ښځی جاناچی ډ یره صبر نا که ښځه وه، سو که یې کینو ته و و یل:
باید ډاکتر را و لو، د کینو د ښځی په دی خبره باندی ټول گاو نډ یا ن خبر شول
چی جانا «ډاکتر غو اړی»؟ په داسی شر ایطو کی د ډاکتر غوښتل څه اسان کار نه ؤ
ځکه چی ډاکتر هیڅکله هم څپر یو ته نه و راغلی او ډاکتر به د اکار و لی کاوه،

ډاکتر د ښار په پلستر شو یو اوډبر ینو کو رونو کی د بلې ایا نو درمل کول کینو له خپل ځان سره فکر وکړاوجاناته یې وویل : «ډاکتر به راشی »؟

جاناو ویل:سو ږ بایدحتمی او ضرو ری و لاړشو . جانا دستی خپل ټکری په سر باندی راکش کړاو د ټکری یو پڅه یې د کو یتیتو په مخ باندی هواره کړه چی لمر څخه پناوی.دښار په لوری یې حرکت و کړ و روسته له یو څه مزل څخه په پخوا و ډبر ینو کو رو باندی و رکړ شول دښار نورخلك هم له دی خلکو سره یو ځای شول او پوښتنه یې کوله چې څه پیښه ده؟ هغو ته به ویل کیدل چې کوچنی لړم چیچلی دی،سوراوپلار یې او س هغه ډاکتر ته بیایې که څه هم دې خلکوخپله تو لنه ډبره ښه پیژ ندله او ټولی اجتماعی بی عدالتی ښی و رته معلو می وی سره له دی ټولو نیمګړ تیا و و یې هیله درلوده چې په دی باندی و پوهیږی چې ډاکتر به له دی کوچنی سره چې لړم چیچلی دی څه وکړی؟

کینو حیران د ډاکتر د دروازی مخی ته و درېده علت یې داوچې یو خو ډاکتر د کینو له نژ ادڅخه نه و او بل داچې د کینو قوم او قبیله یې ټول عمر استثمار کړی و و او په ژ وند کې چې د کینو قوم څه درلو دل ټول یې تړې و ړی و و،همداوجه وه چې کینو ته د ډاکتر سرګ اسان او له هغه سره مخامخ خبری ډېری و رته ګرانی وی،ځکه ډاکتر به د کینو له قوم سره داسی خبری کولی لکه د کوم ژوی او یا ځنا و رسره.

خو کینو مجبو رو د ډاکتر د روازه یې وټکوله .لږ و روسته دروازه

خلاصه سوه یوسړی راغی چی دکینو له نژاد څخه‌و، کینو پخپله مورنی ژبه خبری ورسره وکړی چی زوی‌سی لړم چیچلی دواو درمل‌ته‌ضرورت لری .

هغه سړی له‌کینو سره‌په‌خپله مورنی ژبه باندی له‌خبرو کولو څخه‌ډډه وکړه،زه‌څم چی‌پوښتنه وکړم؟ مزدوړ راغی‌ډاکتر پوښتنه وکړه‌څخه‌خبره‌ده؟

مزدوړویل : یوهندی راغلی دی خپل کوچنی زوی یې راوړی‌وایې چی‌لړم چیچلی‌دی» .

ډاکتروویل :زه‌کوم بل‌ښه کارنه‌لرم چی‌ویې کړم، تردې چی‌دجشراتو چیچل هغه‌هم دهندی کوچنیانو چی‌معالجه یې کړم. زه‌ډاکتر یم ،دځناورو ډاکتر او یې کارنه‌یم».

مزدوړویل :«ښښنه‌غواړم ».

ډاکتروویل:پوښتنه‌یې‌وکړه چی‌پیسی‌لری‌او که‌نه؟

مزدوړراغی دکینو په‌مورنی ژبه‌یې له کینو څخه پوښتنه وکړه چی‌پیسی لری که‌نه چی‌دډاکترفیس ورکړی ؟ .

کینو له‌خپل‌جیب‌څخه یوتاوشوی کاغذراوکښې چی‌څودانی سرغلری په‌کی تاووی مزدوړ ته یې ورکړی چی ډاکتر ته‌یې ورکړی ،مزدوړچی سرغلری ډاکتر ته ورښکاره کړی ،سرغلری دډاکتر خوښی‌نه‌شوی او دمزدوړ په‌لاس یې‌ډیرته‌وروليږلی .

مزدوړکینو ته‌وویل:ډاکتر یوې‌عاجلی‌پیښی ته‌غوښتل‌شوی‌دی.

پر نه‌له‌دی‌چی‌و شر سیری‌او یاخجالت‌و باسی له‌یوې‌خوا ایې‌دروغ وویل‌او له بلی‌خوا یی‌دپیسو په مقابل کی‌خپل مقدس مسلک خرڅ کړ.

کینو چی‌داوضعه‌و لیدله‌دروازه یې‌ډیره کلکه په سوک وو هله‌چی تولی گوتې‌یې‌سری‌وینی‌شوی ،ورو سته‌له‌هغه کینواو جانا دخپل کار دپاره‌دسمندر غاړی‌ته‌خپلی کشتی‌ته‌ورښکته‌شول .

دجانا زړه‌صبر نه کاو ه‌دسمندر له‌وشو خخه‌یې یوه پلنه پټی جوړه کړه او د کو یتیتو په‌زخم‌باندی چی‌لږ م‌چیچلی‌و کښښو ده .

کینو او جانا دواړو خپله کشتی‌دبحر په لو رپو ری و هله‌او کشتی‌یې‌په‌حر کت راو سته‌او دصدفو دښکار دپاره‌دبحر دمنځ په‌لو ری‌ر و ان شول،ډیره کمه‌فاصله یې‌لانه‌وه‌طی کړی که‌گو ری‌چی یو صدف‌له‌نو ر و صد فو څخه‌لری‌پر وت دی، دصدف‌خو له خلاصه‌و ه‌چی‌ناڅاپه پټه شوه د کینو زړه‌په در بډو شو چی دا به سر غلره‌وی،صدف‌یې‌د کشتی منځ ته‌و اچاو ه‌او پخپله پسی‌له‌او بوخخه‌ر اووت‌او لنډی چا کو یې‌ر او اخست که‌گوری‌چی‌د هگی په‌اندا ز ه‌سر غلر ه‌یې‌و لیده‌چی دادنړی‌ډیره لویه‌سرغلره‌ده کینو او جانالاخپلو څپر یو ته‌نه‌ووارسیدلی،چی‌ډا کتر په‌سرغلر ه‌باندی خبر شو نو یی‌له‌ځان‌سره‌و ویل:«هغه زماسشتری‌دی‌زه‌یې‌باید لږ م‌چیچلی زوی علاج کړ م ».

کینو دخپلې‌دروازې‌په‌و ره کی و لاړو چی دو ه‌تنه راښکاره‌شول څراغ

يې په لاس کې چې د څېر يو خواته راکاږه شول او د کينو دو ره خواته ودر بدل کينو وپيژند ل چې يو ډاکتر مزد و ر بل به حتمي ډاکتر وي.

ډاکتر وو يل :«نن سهار چې ته راغلې وې زه په کور کې نه وم، خو اوس تر تولو کارو دمخه اول ستا دزوی دليدو او علاج دپاره راغلم».

د ډاکتر دی دوه مخې وضعې چې سها راوما شا م يې خو سره فرق کړی و په کينو او دخپرې په نو رو خلکو با ندې ډېره بده اغيزه و کړه او د کينو په زړه کې کر که او نفرت راپيداشو، و رو سته يې په نيولې او ازو و يل:«هلک او س مخ په ښه کيدو دی»ډاکتر چې داوضعه و ليدله نو مسکې شو اوو يې ويل : «دلږ م زهر ځني و خت ډېره بده اغيزه لري کله داسې شکاري چې لږ م چيچلې مخ په ښه کيدو دی خو ناڅاپه يې پښه کړه،سترګه ړنده او ملايې کړ و په شی زه د لږ م زهر پېژ نم او علاج يې کو لای شم ».

له يوې خوا ډاکتر دوه مخې چې له سر غلرې څخه خبر شو او په دې تو ره شپه را تګ او ددې و رځې په سهار له خپلې و ظيفې او مسلک سره خيا نت او داچې سهار دلږ م په زهر و نه پو هېده اوس تر هر څه ښه و ر با ندې پو هيږي سره له دې تو لو شيانو کينو په دو ولار ی کې حيران پاته شو. له يوې خوا کر که او نفرت چې دسهار نۍ وضعې په مقابل کې و رسره پيداشوې وه او له بلې خوا دګران زوی ژو ندی پاته کيدل و و.

ډاکتر وویل: زه‌به زیاروباسم‌چی کوچنی ته‌څه دواورکړم چی‌دزهرو مخه ونیسی»، دوایی‌ما شوم‌ته ورکړه دواپه کوپټیتو باندی شه اثر وکړ او په درانه خوب ویده شو.

ډاکتر وویل:«زمافیس‌به‌څه وخت‌راکړی»؟

کینو وویل:«هرکله‌چی‌سی سرغلره خرخه‌کړه ستافیس‌به درکړم».

ډاکتر وویل:ته سرغلره لری؟شه سرغلره‌ده ؟

یوکاونډی‌وویل: کینودنړی‌ډېره لویه سر غلره‌پیدا کړی ده»

ډاکتر چی داخبره واوریده‌نو دسر غلری دغلاپه فکر کی شو کینو ته یې وویل:ته دامر غلره چیری‌ساتی که چادرخخه پټه کړه په‌دی کی دډاکتر مطلب داوچی که چیری کینو هغه‌ځای‌ته نظر وکړی چی سرغلره‌یې ښخه‌کړی وی‌او بیادشپی‌ډاکتر خپل بانډو رپسی راو لیږی، ناڅا په دکینو سترګی د سرغلری‌ځای‌ته ورکیږی‌شوی خو دشپی کینو خپله سرغلره ترتوشک لاندی ښخه‌کړه‌که گوری‌چی دشپی‌د سرغلری غله راورسیدل او دکینو په کور باندی‌یې‌حمله وکړه:په‌دی حمله کی کینو سخت زخمی شو، جاناچی دکینو وینی پاکولی نو یې‌داسی وویل :

دامر غلره‌یوه خبیثه روح‌دی،دابه‌موږو رورک کړی،دابه‌موږ برباد کړی راڅه‌چی چیرته‌یې ښخه‌کړو ،ځای‌یې ښخی‌هیرکړو او یایې‌یېرته په‌سیندکی واچوو .

دټولنې دغیر عادلانه وضعې په اساس که څه هم کینو دخپلې هغې سر غاړې په سر چې په زحمت سره يې پيدا کړې وه دغلو اوغدارانو له خوا په سروو ينو کې ولمبيدې بيا يې دخپل شي په مقابل کې جاناته وويل: «موږ يو چانس لرو».

سباچې کينو او جانا دسر غاړې د پلورلو دپاره بازار ته روان شول. په دې وخت دښهر يو يو سړی هم په کار پسې نه ولاړ او ټول بازار ته راغلل چې معلومه کړي چې کينو سر غاړه په څو و پلورله کينو او نور خلک دبازار په لوري روان شول چې پخوا بلې نګونو او بلستر شو يو کورونو ته ورسېدل که ګوري چې يو چاغ سړی چې خندان معلوميده او د ټول بازار دسر غاړو تجارت په ده پورې اړه درلوده د کينو او سر غاړې په انتظار ناست و کله چې کينو سر غاړه ورښکاره کړه او په قيمت يې سره جوړه نه شول بيا يې خپل نور همکاران او زير دستان راوغوښتل چې د سر غاړې قيمت و تاکي کينو له هغو سره هم په يوه جوړه نه شو. او کينو له خپلې سر غاړې سره ښهرې ته راغې. دښهې دغلو يو بانډ لاس ورته يو کوي او په ښهرې باندې حمله کوي کينو هم دبانډ يو تن و ژني نور يې ځې د کينو کشتي سوري کوي چې کينو و نه تښتي جاناچې داوضعه ګوري پټه سر غاړه اخلي او غواړي چې په دريا ب کې يې واچوي کينو ورباندې خبر يږي

اوپسی ځی چی جا نار او گر ځوی په دی و خت کی دغلو یو نفر راځی او د کینو څېری ته او رو راچوی. کینو دسړی له ډار څخه دخپل و رو رجا ن تو ما س کړه پټیږی او دسړی کیسه خپل ورو رته کوی چی مانن شپه و سا ته او سبا بیگا سو ږځو. جان تو ماس و رته و و یل :

سرغلره یې درځخه یو وړه. کینو و رته و و یل: سرغلره له ماسره ده.

و رو ریې و رته و و یل: ته نه غواړی سرغلره له لاسه و رکړی؟

دتو لنې په بدو شرایطو کی حتی دهغه و رو رهم دغلو له و یری څخه غواړی چی خپل و رو رله هغه څه څخه تېر کړی چی پخپلو لاسو یې کتلی او حتی دخپل ژوند په بدل کی و رته پاته شوی دی دا هغه تو لنه ده چی په هغی کی داسی و ضعه سو جوده ده چی باید تو لشیان دخو غلو په لاس کی وی او بل هیخو ک په تو لنه کی دبل شی حق نه لری چی باید ویې لری، داحق خاص دحاکمه طبقا تو اویادهغو دطبقا تی منافعو دساتو نکو دی .

ددی داستان تو ل اجتماعی اړخونه دامو ضوع شه و اضح کوی چی څر نگه په پانگه والې تو لنه کی هغه لوی ډا کتر چی ډیری پیسی یې درلو دی او یا هغه سړی چی دتو ل ښار دسر غلرو دو کانو نه ددهو و ،سره یو ځای شو ل او یو دغلو

بانډ يې جوړ کړ او دوه واړي يې د کينو په څېړي باندې حمله وکړه او کوښښ
يې کاوه چې دسرګ په مقابل کې هغه شي لاس ته راوړي، خو کاميابه نه شول
لنډ دا چې تر څو په يوه ټولنه کې طبقاتي ستم موجود وي د ټولنې ټولې
نيمګړتياوې د طبقاتي ستم محصول او ثمره ده او جنايتونه فقط هم دسرمايې په
خاطر کيږي او په داسې ټولنه کې انسانيت، مسلک داټول دحاکمې طبقې او
يا دهغو دنوکرانو په خدمت کې وي چې د ټولنې خوار او محروم خلک له
هغو څخه داستفادې حق نه لري. زه د پر خو بښيم چې ددې کتاب چاپ په داسې
وخت کې کيږي چې په ګرا ن افغا نستا ن کې خلقي د ولت د خلق د
دموکراتيک ګوندد نو ميالي لا رښود ملګرې نور محمد تره کې تر لا رښوونې
لاندې جوړ شوې دې د هيواد دليکوالانو دپاره زمينه مساعده ده چې پخپلو
ريالېستيکو آثارو او يادخپلو ترجمو په لړ کې داسې آثار منځ ته راوړي چې د
محروموخلکو په نفع وي او دګران افغانستان دخوارو خلکو په درد وخوږي

محمد اسلم قربانخېل

دپښتو ټولنې د خپرونو لوی مدير

مرغلره

په ښار کې تولو خلکو دلو يې مرغلرې کيسه اور يدلې وه ، چې څرنګه پيدا سوه او بيا څرنګه له منځه ولاړه په ډير شوق سره په يوه او بل ته کيدله ، په کيسه کې د يوه کب نيوونکې او صدف تولوونکې ، کينود هغه دښځې جانا او د هغوی د کوچنۍ بچۍ کو ټټو ژوند بيا نيولې څرنګه چې کيسه له پخوا راهيسې خوشو واړې ويله سوې ده ، نودښار د تولو او سيدونکو په زړو کې يې يوه اند ازه ځای نيولې دی . په دې کيسه کې څه او بد ، توراو سپين خويونه سته ، چې له هغو پرته په کيسه کې نور څه نه دي راغلي « که چيرې دا کيسه افسانه وی يا بل څه په هر صورت ، هر څوك يې دو يلوڅخه دخپل خوی ، عادت او اخلاقو سره سم په ژوند ا نه کې ځانته ، ځانګړی او خاصه نتيجه تری اخلی لنډه دا چې د ښار خلك دا سې کيسه کوی چې ..... » .

سپهره چادو و، ځینی ستوري لاځلیدل ، پوازی دختیز خواته دا سمان په لمن کې لیری څه ژیړ ښکونه رنا لیدله کیده، چرگانو ازا نگونه کول، نا آرامو او وختي پو رته کیدونکو خو گانو خپل سوند کان د ارگو په توتو او دبوتو په خاشو کې وهل، چې دخوړلو کوم شی په کې پیدا کړی. دغپړی دباندی پوه ډله کوچنی مرغان دتونا دونی په څا نگو کې ښور یدل او ړ یدل.

کینو ستر گی رونې کړی، لوړی یې ستر گی ددر وازی په ځلور کونجه رنا اوبها په هغه صندوق چې کو یتیتوپه کې و یده وو لگیدی ، په اخیر کې یې یاسخ دخپلی ښځی جانا و خواته را وا ړا وه، جا نا په دا سی حال کې چې شین تکری یې په پزه اوملا راتاوشوی و، ددې په څنگ کې په پزې ور سره پرته وه . دجانا ستر گی هم رنې وی، د کینو هیڅکله نه په یاد یده چې دپورته کید و په وخت کې به یې دجانا ستر گی پتې لیدلی وی، دهغې توري ستر گی د ستورو په شان ځلیدلی، اود هروخت په شا ن د کینو وخواته کیږی وی.

کینو دهغو غوپو آواز چې د سمندرله غاړی سره لگیدلی او ړ یده، دا آواز کینو ته دډ ر خوږ او گران و، نو ستر گی یې پتې کړی چې داخوږ موز یک دغه وخت له پاره نور هم واوری، دا پوازی دده کارو چې دی خواپه موز یک ته غوږونیسی، یا

دا چې دده ټول تبر ددی سوز یکځ داور یدلو سره عادت درلود. دده قوم یو وخت ښه سندر غاړی او سند ری جوړ وو نکی خلکځ وو، هر هغه څه چې یې لیده یا یې کاوه ، یا یې اور یده او یا په یې په زړه کی تیر یده، دیوی سندری شکل به یې نیو دا سندری خوله په خوله راتلونکی نسلو ته پاته کیدی. خودا ډیر پخوانی عادت و، خواوس دا عا دت هیر شوی و، نوي سندری په زړو سندرو ز یاتی نه شوی ، له دی ځخه باید دا اتکل ونه شی چې ګوندی څو ځ اوس خپلی محا نګړی سندری نه لری، د کینو په سر کی هم اوس اوس یوه سندره چې ډیره خوښه سندره ده ګرځي او راګرځي، ګینو که چیری دا سندره په خبرو بد لولای شوای نو هرو سرو به یې دی سندری ته د کورنی سندره و یلی وای.

کینودسړي ا و لنډي هواله کښله شړی تر پزی پوری په ځان راکش کړی وه ، ناڅاپه یې سترګی د یوه سو که کړپ او کروپ په آواز سره ور پیدی ،وبې لیدل چې جانا بی له کوم ځیر او غوږ ځخه را پورته شوه. په چاودو اولو څو پښو د هغه صندوق وخواته چې کو ټیټو په کی و یده و،ورغله او هغه ته یې المولو وو یل. کو ټیټو د خوشیبو د پاره پورته کتل ، بیا یې سترګی ټې سوی او دو باره و یده سو.

ورو ښته جانا دنغری و خواته نږدي شوه، داور یوه سکرو ټه یې دا یرو ځخه راوایستله د پوزي څو خاشی یې ورباندی واچولی او په هو کو لو سره یې اور تازه کو.

کینو هم را پا ځیده شړی یې په اوږو، پزه او سر باندی راتاو کړه ، کناوی یې په پښو کړی او دهړی دباندی ووت چې دلمر ختو ښکلی ښکلا وګوري. د باندی در وازی ته نږدی کینا ست شړی یې په ځنګنو راکش کړه، دخلیج دها سه یې نری

اور یخی چې سري ځلیدلی تر سترګو کیږی، یوه وزه چې خپلې ز ړې سترګې یې په ده کې خښې کړې وی ور نږدی شوه، بوی یې یې و کیښ بیاتری ږیرته شوه. ترشا یې دجانا اورد څپری له سورو څخه خپلې وږانګې دباندی استولی ، د دروازی څخه ځلور کونجه رنا د څپو په څیر دباندې وتله، یو پتنګ‌ځ اورد پیدا کولو دپاره شا وخوا چورې یده. د کینو تر غوږو د کور نی د سندری اواز کیده د سندری د آواز سره سم د هغی میچنی غږ چې جاناد سورسکو دپاره جواری یې میده ګول یو ځای اور یدل کیده. د لمر ختل نږدی و. اول لیږه خړه رنا، ورپسې رون څیز او په پای کې سور اور غوندی لمر د خلیج دپاسه را پورته شو. کینو د لمر د رنا څخه ستر ګی کته وا چولی اود څپری څخه یې د سورسکۍ د یخولو تړپ اوتړوپ اوریده، اود سورسکو بوی چې په تبخی باندی پخیدل تر سپو موکیدو ، مخی ته یې لوی او کو چنی سپو یان په څمکه اخته وو، یوه ز یږ ر نګه سپږی د هغی لومی له دپاره چې یوه لوی سپږی په سترګی ورته اینبی وه ډیر سخت زور واهه چې ور څخه و تښتی.

یو ډارن تور سپی چې دور یخو په ځای یې ز یږ طلائی خالو نه درلودل د کینو وخواته نږدی سو ، کینو په نرم ومهربانه آواز سره سپی دځان و خوا ته ورو باله سپی خپله لکی دښوبه سنځ کی ځای په ځای کړه او سوند کې یې په کرار او ورو د کینوتر سنځ په ز ینه باندی کیښود. ننی ګهیځ هم دنورو ګهیځونو په شان بی عیبه و . جانا کوپتې تو د ځانګو څخه راوا خیست، د ځانګو درسی آو از د کینو تر غوږو ورسید جانا کوچنی پاک کو اوپخپل تکری کی یې د اسی و نغښت چې سینی ته یې نږدی ځای په ځای سو . کینوتول داشیان بې له دی چې ووینی کتل . جانادخپل ځان سره

ورو ورو یوه پخوانی سندره ویله دی سندری دری نوټه درلودل خوښیا هم نه تماسیدونکی وه دا محکه چې ورپسې نور ی کړی ترلې کیدلی . اودا هم د کورنۍ د سندری یوه برخه ګڼل کیدله دا یوازی یوه برخه وه خو کله کله به دومره لوړ یدله چې ستونی به یې دیوه دردناک غیسې په شان په درد راوست په دی وخت کې به سندره داسې ویل کیدله دا سندره ساتونکی ده ، تودې ده ، خوږه ده ، هرڅه او هرشی ده . د څېړی په خوا کې نوری څېړی او کورونه هم پراته وو ، له هغو څخه هم دودونه اولوګی پورته کیدل د سوړسك پخولو د تړپ او تروپ آوازتری پورته کیده. د هری څېړی آواز د هغی څېړی د اوسیدونکو دپاره د یوی سندری حیثیت درلود محکه څېړ ی ، خو ګان ، مالونه اوتول شیان یې بیل وو ، ښځی یې هم د جانا په شان نه وی .

کینو زامی اوغښتلی و ، تور ویښتان یې په نصواری رنګه تندی باندې را پراته وو ستر ګی یې زړه وړونکی اوځلاندې وی ، بې رحمه غوندی پکاریدی ، نری اوشخ بر ېتونه یې درلودل .

ا وس هوا ښه او صافه سوی وه ، شړی یې له ېزې څخه لری کړه ، لمر خپلی ځلیدونکی وړانګی په توله څېړ ی باندی اچولی وی ، څېړی ته نږدې دووچر ګانو چې سرونه یې کښته نیولی وو ، دوزرواو غاړی ښې یې ېیری کړی وی ، یوه اوږل ته یې تو پونه وهل ، ښې توئیدلی څرنګه چې چر ګان جګړه مارنه وو ، جګړه یې هم دومره خوندوره نه وه کینو د یوی شیبی د پاره د هغو نداری ته ځیرشو ، خوښیا یې سترګی په هغو صحرایې کو ترو باندی ولګیدلی چې د غوندیو پلوته دالوتلو په حال کې وی ، اوس نو تول

سا گنبس راپاځیدلی وو ، کینوهم پورتهشو اوخپلی ځپری ته ننوت .

د کینو دننو تو سره سم جانا دنغری دتازه اورځخه ولا په سوه ، کو ته تو یې په ځانگو کی ځای په ځای کووروسته یې خپل تور و یښتان پمنځ اوپه دوو واښکیو یې سره بیل کړه اوساتو یو سرونه یې په یوهشنه ترانگه سره وترل . کینود نغری په غاړه کیناست .یوتود سورپسك یې وا خیست پهسر که کی یې دوب کړ ا و وی خوړ، ورپسی یې بیالبر څه پلکو.وچښل د کینو په یاد همداسبا ناری و،ځکه هغه به د اختترا و یا کوم خیرات پهورځ دد ی سبانا ری ترمنځ بیلتون و ، کینوته پخپل ژوند کی یوه بله دخوشحالی ورځ هم په یادوه ،چی په هغه ورځ یې دومره کلچی اوخوړی دوډی خو ړلی و ی چې نږدی و د ډیر و خوړوځخه مړشی. څه وخت چی کینوخپل سبانا ری وخوړ جانا بیرته دنغری وخواته راغله اوخپله برخه سبانا ری یې وخوړ، دوی به د هر سبا نا ری په وخت خپری سره کولی خودا خبری د یوعادت له مخی وی د یری خوندوری نه وی.

کینو وارپسل له دی اړیمی څخه معلومه شوه چی د ی دسبانا ری څخه خوښ دی ،دسبانا ری په وخت کی دی اړیمی ددوی په منځ کی دخبرو حیثیت درلود . لمړځپری ورو ورو تودوله اودلمړوړانگی دځپر ی دسورو څخه دنړیو پلوشو په ډول دځپری په منځ ځلیدلی یوه نر ی وړانگه د کویتتو په ځانگو او دځا نگوپه واښکیو باندی هم لو یدلی وه .

ناڅاپه د کینو اوجاناستر گی په ځانگو ولگیدلی دواړه پخپلو ځا یو با ندی یخ کړخ پاتی شول .په هغه پرې باندی چی ځانگو یې ځړیده یوازې ورو ورو دځا نگو و خواته را کښته کیده ، زهرلرونکی لکی یې داسی په شا را اړولی و ه چی هره شیبه یې

کولای شوای چې کو یتیتو په نیښې ووهي . کینو له ډیرې وارخطایي خو له وازه کړه چې د تنفس آواز ښکاره کړي ، دوجود شخوالي يې لرې سو ، او يوه نوې سندره يې په سر کې گرځيد له : دفيلم سندره ، د ډبې من سوز يې د کورنۍ د غليم سندره ، يوه وحشي پټه او خطرناکه سند ره له هغې سره يې د کورنۍ د سندرې دردناکې اوغمجنې ناري په غوږ کې د نگيدلې .

لړم په ډيراحتياط او ورو د ځانگو وخواته راکتله سو ، جانا په داسې حال کې چې سايې نيولې وه يوه پخوانۍ جادو گرۍ د عا يې تر ژ بې لا ندې و يله چې دبلامخه يې و نيسي .

په د اسې حال کې چې غاښونه يې سره نښتي و و ، پاکه او مقدسه سر يمه يې هم رابلله خو کينو په حرکت کې و ، وجود يې ډير وروسخ ته کشاوه ، لاسونه يې په داسې حال کې چې پر غوږ يې د ځمکې وخواته غزولي وو ، او دوستر گې يې په لړم کې خښې وې ، تر لړم لاندې په ځانگو کې کو يتيتو وخندل اوخپل لاس يې د لړم وخواته اوږد کړ . لړم ودريد ، ناڅاپه يې لکې تاندې کړه اونښې يې له ورايه وځلېده .

کينو تيارولاړو ، اودجانا پخوانۍ دعا ، اود غليم غمجن سوز يلك يې د واړه يوځاى اور يدل ، د ده خوځيدل د لړم په خوځيدو پورې تړلي و ځکه لړم هم دا احساس کاوه چې سرگ ورو ورو ورنږدې کيږي د کينو لاس په ډيراحتياط او کراره سره غږيده ، ناڅاپه دلړم نيښې و بر يښېد په همدې شيبه کې خندان کو يتيتو د ځانگو پرې وښوراوه اولړم د ځانگو خواته په لو يدو سو .

کينو د لړم دلو يدو په حال په تلوار سره د هغه د نيوا و لپاره لاس و غزاوه ، خو لړم يې

د گوتو ترمنځ تیرسو ، د کوچنی په اوږه واو یدهغه یې وچیچه ، کینو لږم په ګوتو کې راواخیست اودخمیرې په شان یې د خپلو لاسو په منځ کې وسرو یل په ځمکه یې وغورځاوه اوږه سوک باندې یې د ځمکې په مخ اوارکړ .

کوښتیتو په درد نا کې ژړا پیل وکړه ، کینو لږم دوسره وواهه چې د لنډی توتې په څیر یې لږم د ځمکې په مخ پلن کړ ، غاښونه یې سره نښتي اوسپین ښکار پدل د یرقهرجن او په غضب سره لوسیدلي اودغلیم سوز پاک یې په سر کې چورلیده .

جانا کوچنی په غیږ کې راواخیست دلږم د نیښې ځای یې پیدا کړ ، چې سور بر نښیده راو شاوخوا یې وار په وار سره کیده ، جانا خپله خوله په زخم شوی ځای باندې کینښودله او هغه ځای یې وز یښه ، بیا یې خو له تري لرې کړه اولاړې یې تو کړې ، دا کار یې څو ځله تکرار کړ . خو کوښتیتو بیا سختې کوکارۍ وهلې .

کینود جانا سره هیڅ دول سرسته نه سوای کولای ، یوې او بلې خواته ګرځیده ، د کوچنی په چیغو او کوکارو ګاونډیان د څپر یو ځغه راو و تل ، او د کینو په څپړې یې ورمخه کړه

د کینووروږ جان ټوماس او هغه چاغه ښځه اپولونیا اود هغوی خلور زامن د څپر ی په وړه کې ولاړوو ، اودنورو په مخ یې لاز ترلې وه ترشا یې نورو خلکو کوښښ کاوچې (څپړې) ننې وګور ي ، یو کوچنی هلک د د وی د پښو ترمنځ څپړې ته ننوت هغه غوښتل چې د څپړې د لنه په پښه باندې ځان خبر کړي . هغه څوک چې په مخ کې ولاړوو ، د شاوخوا خلکو ته یې داخبره ورسوله : لږم د ی کوچنی لږم چیچلی دی .

جانا د زخم زبیښل د هوی شیبی د پاره پس کړل ، د نیښې وهلو سوری لږ څه لوی سوی و ، څنډی یې د زیښلو له سپینې اوښتی وی پارسوب او سوروالی یې شاوخوا ته خپور سوی و ، او د یوی لویی دانې په شان د پوست څخه لوړ بر ینبیده تواو خلکو لړم او د هغه زهر څه پیژندل په دې هم پوهیدل چې د لړم زهر لوی سړی هم زوبلوی خو همدغه ز هر یو کوچنی هلك په اسانۍ سره و ژنی ، دوی په دې پوهیدل چې کوچنی به اول د پارسوب تبی اود ستو نې د تنګیدو سره سخامخ سی او بیا به یې ګیله سخته سی او که یې چیری هوره زهر وجود ته ننوتی و ی نو سر ګ یې حتمی دی ، اوس د زخم د ردمخ په ورکیدوو ، د کوچنی ژړا په سلګیو بدله شوی وه ، کینو د جانا صبر او حوصلی ته حیرانیده جانا د پرله خبری ما ته په لاره سمه ، خوشحاله او صبرنا کې څېره وه ، د کوچنی د زیر بد و په وخت کې یې له ډیره درده ملا کړو په نیولی وه ، خود خولی څخه یې غږ نه خوت ، جانا د ستوماني اولوړی په مقابل کې تر کینو کلکه اوسیخته وه د جال په غوړولو ، راټولولو او د پارو په وهلو کې د نارینه غوندې غښتلی او چالاکه وه او س یې هم پوه حیرانوونکی او د تعجب وړ خبره وکړه : « ډاکتر » بیا یې د پرسې ز یاته کړه ولاړشه ډاکتر را وله .

د اخبره د هغو ګاونډیانو غوږونه ورسیده چې د څېړی د باندی راغونډ شوی وو ، هغوی د اخبره پخپلو سترګو کې یواو بل ته په ډیره حیرانتیا سره ویله : « جانا ډاکتر غواړي »

ډاکتر غو بښتل پوحیرانونکی اونه هیرونکی کار و ، ډاکتر هیڅکله څېړ نه وته نه وراغلی ډاکتر به ولی د اکار کاوه ، څکه هغه نور د پر کار ونه د رلودل ، ډاکتر یوازی د بنارپلستر سوواو د پرینو ګورو کې د پلایانو د رسل اوهلاج کـول .

کوم خلک چې په انګړ کې ولاړوو ویې ویل: ډاکتر به راشي؟ کینود ځان سره فکرو کړ بیا ئې جانا ته مخ ور واړول ویې ویل: هغه به رانه شي». جانا چې ستر ګې یې دزمری په شان رڼې نیولې وې کینوته وګتل، جانا د نړۍ د ټولو نعمتو څخه یوازې هم دغه یو کوچنۍ بچي درلود. کله چې کینو د جانا په نیت پوه سوه د کورنۍ خو پرمخ یک ځل په مغز وکې په یوه درانه آواز سره دغلیم دموزیک په مقابل کې راپورته سو.

جانا وویل: «هرومرو باید ولاړسو» په یوه لاس یې خپل تکری په سر باندې سم کړه، د تکری دیوې پیچکۍ څخه یې دلالهاندې کوچنۍ د پاره ځای جوړ کو او بله پیچکه یې د هغه په مخ وغوړوله چې ستر ګې یې دلمر له وړانګو څخه وساتلې سي.

هغه خلک چې د څېړې په وره کې ولاړ د شا په والو یې زور وو وړې د جانا دوتلو لاره خوسی کړې کینو هم ورپسې رهي سو، دوی د درو ازې څخه روان سول هغې لارې ته چې لوړې اوزورې یې درلودې ووتل. د دې پېښې او ګاونډیتوب په خاطر ټول ګاونډیان په یوجا یې توګه بې له کوم غږ اوغوږ څخه په او چتو ګامو په دوی پسې د بنار لورې ته روان سول.

اول جانا او کینو ورپسې جان توماس او اپولونیا چې غټه خپته یې د او چتو ګامو په واسطه وروورو ښوربده اوورپسې ټول ګاونډیان سره له هلکانو چې د دوی د ټولې په څنګ کې یې منډې وهلې روان وو.

د شاله خوا زیرلمر د دوی سیوري د مخې وخواته اچولې و دوی پخپلو سیوروباندې تګ ګاوه او د اسې ځای ته ورسېدل چې څېړې خلاصیدلې او د بریښ پلستر سوی بنار شروع کېده، د بنار محکم دیوالونه په ډېر عظمت سره ولاړوو، د بنار په مخ کې سمسور پارکونه، ښکلې باغونه چې رنې اوخوږې او به په کې بهیدلې پراته وو، چې د یوالونه په سپینو

د پرو ، ګلابی او سرو خښتو باندی پټ و ، دوی د باغ دا و بو آواز چی په د پرو باندی توییدی د مرغانو له چرچری سره چی په باغ کی وه یوځای او ریدل. داخلک د رند و د موسسی او د کلیسا د مخه تیرسول .

اوس نو د دوی د له د پره لویه سوی وه څکه بنارته نږدی نور خلک هم ورسره یوځای او ګډ سوی وو ، نو یوو رګډ سو یو خلکو چی به یوښتنه و کړه . نو په د پره پته خوله او آرامی به قصه و رته کیده له؛ چی کوچنی لږم و چیچه اوس یې سور او پلار غواړی چی هغه د اکتر ته یوسی.

د نو یوخلکو څخه چی د دوی د لی ته و رګډ یدل لحینی یې د کلیسا د مخی سوالګرو و ، دی سوالګرو د هرسړی د شتمنی په اټکلولو کی د پرلوی لاس در لود .دوی د ستی د جانازړی لمنی ته و کتل او وی لیدل چی ګریوان یې په اوښکو لوند دی، بیا یې د هغی شینی پرانګی پیه چی و یښتان یې پی ترلی و اټکل کړه، د کینو د شړی عمر او د هغه ، هغه کالی چی څوځوواری پریمنځل سوی و، هم اټکل کړه. لنده د اچی د خپلی ځیرنی او کتنی ور وسته یې دوی دغریبانو او بی وزلو خلکو په د له کی حساب کړه، سره له دی هم دوی پسی روان و ، غوښتل یې چی و ګوری چی د ا پیښه څه د ول د رامه را منځ ته کوی او د اړامه به څه د ول پای ته ورسیږی .

هغو ځلورو تنو سوالګرو چی د کلیسا په مخ کی یې ژوند کاوه، د بنار ی ژوند ټول اړخونه یې بنه پیژندل هغه ځوانی ښځی چی د ګناو د اعتراف او اقرار څخه په ورو سته چی له کلیسا څخه راووتلی ،دوی به په یوه وار ګتلو سره کولای شوای چی د هغوی د ګناو و څرنګوالی ځانته معلوم او څرګند کړی دوی د د پرو کوچنیو او یادلویو جرمو او جنایتو څخه خبرو او یا خبر پدل ،دی ملنګانو نه غوښتل چی څوک دی یې د دوی له خبرتیا څخه د ګناو و د اعتراف او اقرار د پاره کلیسا ته نږدی له همدی کبله دوی تل او همیشه د کلیسا تر سیوری لاندی ویده کیدل

دوی ډاکتر هم ډبرښه پیژاند په ناپوهی، ظلم، حرص او آزار باندی چې خلکو ته یې رسول ښه خبرو و، دوی په دی هم پوهیدل چې ډاکتر د جنین سبقط هم په خوشالی او خلاصه ټنډه سره سرته رسوی؟ دهغه خیرات ور کول یې هم لیدلی و چې څرنګه کوچنی کوچنی سکی غریبا نو ته غوږ ځوی، د ډاکتر د مړو د و د او د ستو ر یې هم چې کلیسا ته یې د ښه ښه و ړل په یادوو، څرنګه چې د لوړی ماس ورځې تهری سوې وې د دوی کاروبار هم چې د خیرو خیرات ټولول وه سوړ سوی و، نو دوی هم په ډله پسی رهی سول.

دی یې کراره او ناآرامو خلکو خپله ټولنه ښه پیژند له، خو بیا یې هم غوښتل چې دا معلومه کړی چې د ډاکتر به ددی بی وزلی او غریب کوچنی سره چې لږم چیچلی دی څه و کړی، په آخیر کی د اپه ښکاره او څپانده ډله د ډاکتر د کور دلو یې دروازی ته چې په دیوال کی ټینګه کلکه سوی وه ورسیده له، دوی داو بو دتو یید لو آواز چې په ډبرو باندی تو ییدی، د هغو مرغا نو آواز ونه چې په قفسو کی پراته و او داو ږدی جارو کښیا چې د انګړ د غولی په ډبرو باندی تپر یده اوریده، د کور څخه د خوګ د کباب شوی غوښی بوی پورته کیده. کینو دیوی شیبی دپاره زړه بې زړه ودریده، ډاکتر د ده د نژاد څخه نه و، ډاکتر د هغه قوم څخه و، چې تقر یباً ځلور سوه کاله یې د کینو قوم بی ساری استثمار کړی و، لوڅ او برهنه یې د رولی و، بې سیاله یې بللی و، پخپلو غیرا نسانی کاروباندی یې د اړولی و، نوله همدی کبله یوسی کینو سرتیتی دروازی ته ورتپر سو او د یخوا په شان چې به ددی قوم کوم سړی ته نږدی کیده، کینو به ځان کم زوری، د اریدونکی، وارخطا او غمجن لیده، اوس یې هم د ډاکتر د دروازی په مخ کی همدا حال درلود قهر او د اړ یې دواړه په وجود کی راپیدا سول، کینو ته د ډاکتر وژل

اسان کارو. خودهغه سره مخامخ خبری ورته وپری مشکلی پکار یدی، دالحکه چی دډاکترقوم تل دکینو دنژاد سره داسی خبری کولی، تا به فکر کاوه چی دکوم ساده ژوی اویا ځناور سره مخامخ دی، څه وخت چی کینو خپل بنی لاس د دروازی دځنځیر دشر نگولو دپاره پورته کو، نو وجودیې یوه تیوته قهراو غضب وگرځیده، ددښمن موز یک یې په غوږو کی شرنگیده، سو نو ان یې له غاښو سره کلک نیښتې و، کینې لاس یې دخولې دلری کولو دپاره پورته کړ، څه وخت چی ځنځیر د دروازی سره ولگیده دتک تک آواز پورته سو، کینو خپله خولی دسر څخه لری کړه، منتظر ودریدو کو یتیتو لږ څه وغونځیده، جانا دهغه دکرارولودپاره ورو ورو للوللوو ویل

ډله ددی دپاره چی تول حال او خبری له نږدی څخه وگوري او واوري، نو دروازی ته رانږدی اوغونډ سول.

ورو ورو له لږ شوې لویه درو ازه څوانچه بیرته سوه. کینو د دروازی له چولی څخه دباغ پکلی او شنه منظره او یوه کوچنی فواره چی او په یې هری خواته پاشلی لیدلای سوای. هغه سړی چی د دروازی له چولی څخه یې کینوته کتل دده له قوم څخه و، کینو دهغه سره په مورنی اوزړه ژبه خبری وکړی: «کوچنی لومړنی زوی می لرم چیچلی دی» کینو داهم وویل: هغه دډاکتر مهارت او دوا په کار لری. دروازه بیرته وتړله سوه مزدور په مورنی ژبه له خبرو کولو څخه ډډه وکړه وبی ویل: «یوه شوښه ودر یږه زه څم چی پوښتنه وکړم».

مزدور درو ازه وتړ له، ځنځیر یې بیرته په کی وا چاوه، رڼه ځلیدونکی لمر ددوی تولوسیوری، دکور په سپین دیوال باندی درسم سوی شی غوندی اچولی و.

ډاکټر پخپله خونه کې په لوبه او پسته چوکۍ کې ناست و ، دوربینمو سره بخونه چوپانه چې د فرانسې ساخت و اغوستی وه ، چوپانه یې لږ څه تنګه ښکاریده ، سړی داسې فکر کاوه چې د چوپانې تنې ترلی سوی دی د میزد پاسه یې یو دسپینوزرو پتنوس ، یوه دسپینوزرو چاینکه او یوه چې پیاله چې د هګۍ د پوست په شان نازکه او نرۍ وه ایښې وو ، ډاکټر په دوو ګو توپیاله پورته کړه او دري نورۍ ګوتې یې د پیالې په شاوخوا راوګرزولې چې چای وخوري پیاله او چاینکه دومره ښکلې او ښایسته وې چې د ډاکټر غټ لاس ورسره ورنه و ، ستر ګې یې په چاغ او پرسیدلې مخ کې ګوچنۍ او کټه بربنډې ، خوله یې داسې ښکاریده چې ګوندې له کاروبار اوژوند څخه خوښ او راضي نه ده ، د برغټ اولوی ، له د پرچا غبښت څخه یې ستونې ترفشار لاندې و ، آوازیې د پر درونداوغږمبې ته ورته و ، څنګ ته یې په یوه بل میز باندې د شرقي جوړښت خاکستر دانې او یو د سګریټو قطي پروت و ، د کوټې میز او نورو شیانو درونده ، تور بخونداوغمجن رنګ درلود په خونه کې یې عکسونو ، رسمونو ، تابلوګانو اوده د ښځې تصویر او نورو ټولو نقاشیو تقریبا مذهبي رنګ درلود ، که یې خدای دعاګانې اوخیرا تونه قبول ګڼي جنت به یې په برخه سی

ډاکټر یووخت دلیږي سودی د پاره دهغه دوینا سره سم دلوبې او مترقي نړۍ یواوسیدونکیو اوس یې هم په فرانسوی توب اودفرانسې په یادو پورې ځان ترلی باله ، او سنی اوراتلونکی ژوند یې د فرانسې په یاداو د فرانسې په صفتو تیریده له دې خبرو څخه ډاسې اتکل ګیدای سی چې ده هلته کولای سوای چې په لږو پیسو مزدورونیسی ، رستوران ته ولاړسی ، په لږه بیه ډوډۍ وخوري او ځانته یوه پیاله قهوه واخلی ډاکټر یوه پیاله شیدی ور واچولی اوخوږ بیسکوټ یې ور مات

کړ مزدور راغی او په کوټه کی ودریدچې ډاکټرې وویلی
ډاکټر پوښتنه وکړه «څه خبره ده»
مزدور: «یوه هندی خپل کوچنی هلک راوړی دی، هغه وایي چې لږم
چیچلی دی»
ډاکټر دمخه تردی چې قهرسی خپله پیاله پې ورو کیښودله.
«زه بل کوم ښه کار نه لرم چې وبې کړم تردی چې دحشراتو چیچل هغه
هم دهندی کوچنیا نوچې معالجه پې کړم زه ډاکټریم دځنا ورو
ډاکټراو پیکار نه یم» مزدور وویل: «هو، ښه غواړم»
ډاکټر پوښتنه وکړه «پیسی لری که نه؟».
نه. نه دوی هیڅکله پیسی نه درلودی او نه پې لری، زه دایوازی زه باید
پدی نړۍ کې خوپې دخدای په جات کارو کړم زه ددې کار څخه
ستړی شوی یم بیا هم وګوره که چېرته کومې پیسی ولری مزدور
ولاړ بیا پې یوه بله دروازه ټکوله او منتظر دلی ته پې وکتل
او داوار پې په سورنی ژبه ورته ووېل. «پیسی لری چې دډاکټر فیس
ورکړی؟».
کینوخپل لاس ترشړی لاندی دیوه پټ ځای دپلټلو دپاره او وېد کړ هغه
یو کاغذ چې څوخوواری تاوشوی وه، راوکیښ. کاغذ پې تاوپه تاو
خلاص کو په آخیر کې د کاغذ له منځه اته دانی پدشکله بې رنګه اوبې
قواری کوچنی کوچنی مرغلری راپیدا شوی، مرغلری خاوری رنګه
اوزخم شوودانوته ورته وی، اوتقریبا بې بیې وی. مزدور کاغذ تری
واخیست اودروازه پې پېرته وټرله داخل مزدور دیر زر پېرته راغی
دروازه پې دوهره پېرته کړه چې ایله په ایله پې کاغذ تری تېر کړاودهغه
څښتن ته پې وسپاره.

«دا کتر دباندی وتلی دی» او بیا یې ورپسی زیاته کړه «هغه یوی عاجلی پېښی ته غوښتل سوی دی». بی له دی چی وشرمیږی او یا خجالت وباسی زر یی در وازه وترله، د شرم او سرټیټی احساس په ټوله ډله پریووت هغه حیران سول، ملنګان بیرته د کلیسا دزینو وخواته وخوځېدل لاروی اودلاری د سر بیکاره او او په هره خلک ټول په خپله مخه ولاړل، گاونديانو هم پریکړه وکړه او رهی سول هغونه غوښتل چی د کینو سرټیټی او خجالت دټولو په مخ کی په ستر گوو وینی.

کینو چی جانا یې هم په څنګ کی ولاړه وه د در وازی په مخ کی دزیات وخت دپاره ودریده، له هغه ورو سته یې ورو خپله خولی دیوه سوالگر او خیر غوښتونکی په څیر په سر کړه، بیا یې بی له کوم غږ او غو ږ څخه در وازه ډیره محکمه په سوک وو هله، د در وازی دو هلو څخه ورو سته خپلو گوتو ته چی وینی تری بهیدی هک پک او حیران پاته سو.

دوهم فصل

نبا رد سمندر په بوه پراخ خلیج باندی پروت دی، د سمندر غاړه زیږ بخونو پلسترشوو ودانیو او تعمیرونیولی ده، داو بوپه غاړه کی سپینی او آسمانی رنګه کوچنی کشتی ځای په ځای ولاړی دی، دا کشتی د نسلونسلونه را په دیخوا د صدف نیوو نکو او کب نیوونکو له خوا دیوه پلستر په واسطه چې سخت دی او به تاثیر نه پې کوی ساتل سوی دی. کشتی د غشی په شان جګی او ښکلی دی. دهری کشتی په منځ کی دیوه بادبان د تړلو د پاره یو کلک او سخت ځای و جود لری د سمندر غاړه په زیږو شګو پټه ده خود او بوغاړی د ډبرو د ټوټو او سمندری نباتاتو پلستر نیولی و، چنګاښان پخپلو غارو کی چې په شګه کی بې جوړ کړی وغو نخیدل په هغو ځایو کی چې او به لږی وی کوچنی چنګاښان د خپلو غارو څخه وتل او ننوتل، چې د تګ او راتګ آواز بې اوریدل کیده ای سو، د سمندر ژوری برخی د بنوییدو نکو او شنه کیدو نکو سمندری نباتاتو څخه ډکی وی، نصواری رنګه بحری نباتاتو د او بو د حرکت په واسطه د څپو په څپر حرکت کاوه، سمندری شنی چوپړی وروورو د څپو سره ها خواد یخوا بنوریدی او د او بو کوچنی آسونه ورپوری نښتی وو خال لرونکی کبان

د چوپړ یوپه منځ کې او سیـــدل ، چنګاښان د دوی د پاسه په تګ
او ړا تګ کې لیدل کیده د ښارو ړی سپی او خوګان په سړو کبانو
او سمندری حیواناتو پسې چې مدوجذر په واسطه د سمندر غاړی ته
راوړل سوی وو لالهانده ګرځیدل. تنکی غرمه لانه وه لمر هم ډیر هسکه نه
وراغلی ، خړه پړه هوا پورته سوی وه ، هغه هوا چې ځنی شیان لویوی
او ځینې بیا د ستر ګرځخه پناه کوی د ټول خلیج د پاسه خوره ښکاریده
طبعی منظری هم ښکلی نه وی او په لیدنه یې هم باور نسو کیدای ، له همدی
کبله د ځمکې او او بو په منځ کې کوم خاص توپیر نه و موجود او منظره یوه
نامعلومه خوب ته ورته وه ، ښایې همدا سبب وچې د خلیج او سیدونکو
په روحی اوخیالی شیانو باندې عقیده او باور درلود ، خو بیا هم دوی
د خپلو ستر ګو په لیدو پاڼه نه وو اودا یې هم نسوای اټکلولای چې
د دوی ستر ګې د کومو اټیکې توانینو سره برابری دی که نه ؟ .

دمانکروز دونو له منځه چې د سمندر په غاړه ولاړی وی د خلیج یوه
برخه د لیدو وړه ، خو د مانکروز دونوزیاته برخه د شنه تور بخن ګرد په
شان ښکاریدی ، د سمندر پورې غاړو لږ څه ر نادر لود ه اودا و بوغوندی
ښکاریدی خو په لیدو پاڼه نه وه ، دا نه معلومیده چې هلته څه شی شته او
که نه د خلیج او سیدونکو ټول شیان او ځایونه په پورتنی بې باوره شان کتل
د هغو د پاره دالیدنه د حیرانتیا وړ نه وه . د او بو د پاسه سور بخن ګرد
ولاړو ، چې د سهار تو د و پلوشو په نه لیدونکی څپو ښورا وه . د صدف
نیوونکو او کب نیوونکو څپړی د سمندر د غاړې څخه لږ څه بیر ته د ښار په
ښې خوا کې پرتې وی او کشتی هم د هغو په منځ کې ځای په ځای سوی وی کینو
او جانا د سمندر غاړې ته ورشیوه شول ، او خپلې کشتی ته ورغله .

کینو د خدای په دی لویه نړۍ کې یوازی د دی یوی کوچنۍ کشتۍ
خاوند و ، کشتی چې څه هم ډیره زړه وه خو ده ته ډیره ګرانه او خوږه وه

د ګینو ور نیکه هغه د یاریت څخه راوړی وه ، بیا یې نیکه هغه د ګینو پلار ته ور ګړی وه. او هغه په همدې شان ګینو ته په میراث ور رسید لی وه ، دا کشتی د ګینو ټوله شتمنی او دډوډی د پیدا کولو یواز ینی وسیله وه په دې ځای کې چې یوه سړی همدا سی یوه ګوچنی کشتی در لوده ډاډه و ، چې یوی ښځی ته څه نا څه د خوړلو کوم شی پیدا کولای سی ، کشتی د لوړی په مقابل کې یوه پناه وه ګینو هر کال خپلې کشتی ته زیر بخون پلستر پخپله خاصه او پته طریقه چې د پلار څخه ور پاتی شوی و. و ر کا وه ګینو کشتی ته راغی او د عادت سره سم یې ور ولاس په یاد بان تیر کړ هغه خپله د غوتی و هلوډ په ره ، دوه رسی او ټوکری د کشتی په یوه خوا کې واچول ، شړی یې و نغښته او د باد بان په ښخ کې یې کینبو ده جانا ګویټو په شړی پری ایست ، خپل تکری یې پې و غوړ اوه ، چې د لمر له تو دو ور انګو څخه یې و ساتی ، هغه او س پته خوله و ، خود او ړی پار سوب یې شاو خوا د غاړی او غوږ و تر بیخه پورې رسید لی و ، مخ یې پرسید لی او تبه لرونکی غوندې ښکاریده .

جانا د او بو خوا ته کړه سوه ، لاس یې په او بو کې ډوب کړ ، څه نصواری رنګه غوندې سمندری نباتات یې راغونډ کړل ، یوه پلنه لنده پټې یې تری جوړه کړه بیا یې د کویټو په پرسید لی او زخم سوی ځای باندې ګینبوده ، بیا یې د ادرمل هغو سره په یرموثروی لکه هربل درمل ، خولوی عیب یې د او چې عصری درمل نه ور ته وړ یل کیده ، یوخوسا ده او ډل د اچې بیه یې هم نه در لوده ، کویټو ته د ګیډې سختوالی و ر پیښ نه شو بیا ئی جانا ز هر د اغیزی څخه د مخه ز یښلی وی ، خو بیا یې هم خپله خوا شینی د خپل لومړی اولاد په برخه کې نه سوای زغملای جانا فکر کاوه بیا یې د ګوچنی د روغید و د پاره به یې د زړه د اخلاصه د عا نه وی کړی او یا به

يې دادعا په زړه کې ورتیره سوی وی چې کومه مرغلره پیدا کړی او یاد هغې په واسطه کوم پاکتر د کوچنۍ دروغید ودپاره راولی ، ددی خلکو زړونه دخلیج د هنداری غوندی پاك او صاف وو.

کینو اوجانا کشتی داوبو خواته شپوه کړه ، کله چې د کشتی منځنی برخه په لاسبوسوه ، جانا کشتی ته ورو ختله ، کینو د کشتی وروستی برخه داوبو لورته پورې وهله او پخپله د کشتی په څنګ کې په اوبو کې ورسره رهی و کله چې کشتی پوره اوبوته ورسیده له کینو هم وروخوت کینو اوجانا دواړو پاروګان په لاس کې ونیول او کشتی یې داوبو په منځ په حرکت راوستله ، کشتی چې ترشا یې سپینه لار په اوبو کې جوړیده اوچته سوه نور صدف نبوونکی ډیر د منځه وتلی وو ، لږ شیبه وروسته کینو هغه ولیدل چې د ګردپه منځ کې د صدفو په ځای سره راغونډ شوی دی .

دلمر وړانګې داوبو څخه تېری اودسمندر تل یې روښانه کړی و ، دسمندر په تل کې د مرغلرو صدفونه د څنګ په څېر ډډ پروسره نسبتی وو ، دسمندر مخ د ماتو اوخېری سوو صدفونو څخه ډک و داهغه تل او ځای وچې دهسپانیې پاچاهان یې د پخوانی اروپا لوی اوغټ قدرت ته رسولی وو ، او دهغو د جګړو لګښت ته یې ډېر کومک او مرسته رسولی وه ، او هم یې دهغو په واسطه د خپلو اړواحګانو د ښېلو دپاره کلیسا وی یې ښایسته کړی وی . خاوری رنګه صدفونه پخپل پوست باندی ګنه لمن لری چې ځینې کوچنۍ بحری نباتاتو اوطفیلی حیوانات یې په لمنو پورې نښتی وی ، او په سر یې کوچنۍ چنګاښان ګرځی اوراګرځی ګله ګله دا سی هم ګیږی چې کومه شکه ددی صدفونو په کوم غړی او کونج کې ځای ونیسی او د صدف د عضلی هغه برخه خرابه کړی ، خو صدف د خپلی عضلی دساتنی دپاره یوخاص سمتی پوښ په شګه باندی

غوړوی کله چې دا کار شروع شی عضله د باندینی شی پوښ کو لوته دوام ورکوی، ترڅو دمدوجذر په واسطه او یا د صدف د څېرولو په وخت کې د باندنیی شی تری جلا سی چې په حقیقت کې هم دغه پوښ سوی شی ګه او د باندینی شی مرغلره ده، دې پرې پخوانی زمانی راهیسی انسانان په او ښو کې غوټې وهی او دسمندر دتل څخه صدفونه را باسی هغه ښوا څېریی او سپړي یې او په هغو کې دپوښ سویو شګو پلټنه کوی، کله کله کښان د صدفونو په ځای کې ژوندکوی او د صدف لټوونکو خلکوله خوا کښان دخپلو ځایونو څخه سړل کیږی ترڅو او به رونې وساتی.

د مرغاری پیدا کول یوتصادفی کار دی، دهغه چا د پاره چې بخت او طالع ورسره مل وی کیدای شی چې دانیک مرغی یې په برخه شی.

کینودوه دانی رسی درلودی، چې یوه یې په تو کړی او بله یې په ډېره پوری تړلی وه، کینو خپل کمیس او پتلون و کیښ خولی یې د کشتی په منځ کې واچوله، او به غوړې او کراری غوندی ښکاریدی تو کړی یې په یوه لاس او ډېره یې په بل لاس کې ونیوله ـ اول یې پښې د کشتی په زې وښویولې، او بیا ډېری د اوبو منځ ته ورکش کړ د هوا پوکانی د کینو د ډوبیدو په وخت کې له او بو څخه راپورته کیدی د اوبو تر رنېدو وروسته هرشی د لیدووړو، داو بو مخ اول څپانده خو بیا په یوه ځلانده هنداره بدل شو، کینو خپلې کشتی لاندینی برخه لیده چې په دی هنداره کې نیښتی ښکاریده. کینو په ډېر احتیاط سره حرکت کاوه نه یې غوښتل چې او به دخپلو اوشګو په واسطه خړی سی، پښې یې په هغه کړی کې چې ډېره ورپورې تړلی وه تینګې کړی، لاسویې په ډېره ډېره احتیاط سره کار کاوه، دسمندر دتل څخه یې صدفونه په جلا جلا ډول او که به سره نیښتی وو، ګیډی ګیډی راشکول او خپلې تو کړی ته یې اچول د کینو قوم دهرشی د پاره چې پیښ شوی و او تر

اوسه منځ ته راغلی و ، سندری جوړی کړی اوویلی وی.

دوی د کبانو، د آرام اوطوفانی سمندر دنیا اوتیاری، د لمر او سپوږمی دپاره سندری در لودی دغه سندری اوداسی نوری سندری چې هروخت جوړی شوی اوځینی یې هیری شوی هم دی خو د کینو اودده دقوم په مغزو کی پرتی وی ، په دی وخت کی ټوکری په ډ کیدووه ، د کینو په مغزو کی سندره راپورته سوه ، ددی سندری آواز دزړه در پیدل و، چې ساتل شوی اکسیجن یې وارپه وارخوړ.

شین بخونو اوبو ، بی کراره کوچنی بحری ژوی اود کبانو تښتیدونکی ګلی ددی سندری دمیلودی ځای نیوخو په دی سندره کې یوه بله کوچنی خوږه سندره چې په سختی سره حس کیدله هم موجوده وه د اسندره چې ډیره خوږه اونه پیلیدونکی وه دهمدغی میلودی په نفس کی پټه وه ، د اسندره د مرغاری سندره وه ، کیدای شول چې د ا مرغاره په هغه صدف کی چې ټوکری ته اچول کیږی پرته وی، خو پیدا کول یې اسانه کار نه ښکاریده او که سړی ډیر بختور وی هغه خو پیله خبره ده.

کینو پوهیده چې جانادده دپاسه په کشتی کی رنګارنګ د جادو ګری دعاګانی لولی اوخپل بخت از مویې او په زوره به له خدای څخه مرغاره غواړی، دا ځکه چې جانادا وخت د کویتو ټو د پرسیدلی او بې دپاره ضرورت درلود، څرنګه چې ارتیازیاته وه هیله هم په هغه اندازه غټه وه د مرغاری خوږه او کوچنی سندره چې ښائی مرغاره پیدا شی ان سهارتر نورو ټولو سندر وغښتلی ښکاریده ، دهغې زیرو بم ، او بندونه په څرګنده توګه د سمندر دتل څخه راپورته کیدل کینو په خپله مغروره اوزور وره ځوانی تردوو دقیقوزیات تراوبولاندی بې له سا ښکلو څخه پاته کیدای سو.

نو په همدی سبب یې په ځیر اوغور سره کار کاوه ، اوخت خت صد فونه به یې پلټل دا ځکه چې صد فونه ګډود او یود بل سره نښتی پراته وو ، د کینو په ښی خوا کی یوه ډډ پرو راوتلی برخه پرته وه ، دا پر خه تازه اوتو یو صد فونو چې د تولولو ورته وو پوښ کړی وه ، کینو تردی راوتلی ځای تپرسو ، خود هغه په څنګ کی یې یوځا ننګړی صدف چې د نورو صد فو سره نیښتی او پوښ سوی نه وو ولید په دی ځای کی اوږ صدف د هری پلاخخه خوندی پاته سوی و ، د صدف یوه برخه خلاصه پاته وه ، د صدف په عضلو کی چې سوندو ته ورته وی ، کینو یوه خیالی غوندی رنا ولیده ، وروسته د صدف خوله پرته وترلهسوه د کینوزړه په درپېدوسو ، دامیلوری کیدای سی چې مرغاره به وی ، د ده په غوږ وکی ناڅاپه په ننوتو سوه کینوسو که په صدف پاندی زور واچاوه راجلائی کواو دخپلی سینی سره یې تینګ ونیو ، کینو پښه وخوځوله او ډډ بری درسی څخه یې خلاصه کړه ، بدن یې داوبو سر ته راپورته کو ، په داسی حال کی چې تو رو پښتان یې دلمر په وړانګو کی ځلېدل ځان یې د کشتی څنګ ته ورسا وه ، اوصدف یې د کشتی منځ ته وغورځا وه .

د کینو دختلو په وخت کی جانا کشتی د توازن په حال کی سا تله ، کینو په داسی حال کی چې ستر ګی یې د خوشالی څخه ځلېدلی په ډډه سینه او کمینی سره یې اول ډډه او ورپسی د صدفو تو کری د وبوسر ته راپورته کړل اود واړه یې د کشتی په منځ کی کیښوول ،

جانا دده په احساساتو وپوهیده خوځان یې بلی خواته مشغول ساتلی و، جاناسا و نیولهاوفکر یې کاوه چې د یوه شی د پیراوز یات غوښتل ښه نه دی ځکه ځنی وختونه دسړی بخت چپه کوی ، یوسړی یا ښځه باید دځان سره برابر شی وغواړی .

خو په همدی وخت کی هروسرو دار باب الانواعو سره په هوښیاری اواحتیاط سره معامله وسی. کینو په ډیر ځیر توب او دقت سره خپل لنډی او تیره چاکوخلاص کو . دیوه پلټونکی او قمارباز په شان یې ټوکری ته وکتل، بیا ئی فکرکاوه چې دا به ښه وی چې لوی صدف د ټولو په آخر کی څیړی کړی ، ده یو کوچنی صدف د ټوکری څخه راواخیست، عضلی یې ورپرې کړی ، دهغه کونجونه یې وپلټل بیا ئی اوبوته واچاوه ناڅاپه یې په فکر کی ورو ورو ګرځیدل چې اول باید لوی صدف څیړی اووپلټی ،دکشتی په بیخ کی کینوست صدف یې راواخست اووې کوت دصدف لیکی تو ری او نصواری ځلیدلی اویوازی څوکوچنی طفیلی بحری حیوانات په صدف پوری نښتی وو، خوسره له دی هم دکینو خوښه نه وه چې صدف وپلټی، ده همداسی ځنی شیان لیدلی و ، کینو فکر کاوه چی ښایې دا یوازی دده دفکراخستنه وی، اویا داچې ښل هوارصدف په کی ننوتی وی اویاخو بیخی خوب اوخیال وی. څرنګه چې په خلیج کی واقعی رڼا نه وه نو تر ریالستی اورښتینی شیانو خیالی شیان ډیر ډیر ښکلی ، دجانا ستر ګی په کینو کی خښیدی وی او نورې انتظار نسوای

PROPERTY OF 5697

استلای، جانا خپل لاس دویتو کیتو په سر باندی کیښو دا وروبې وویل: خلاص یی کړه.

کینو په شه تو گه چا کو د صدف په ارخ کی ننیست، د چا کو د نښو توخخه یې د عضلی شخ والی حس کړ، د چا کو لاستی یې تینگ کو، عضله پری سوه او صدف په دوو برخو سره جلاسو. دسو نه و غوندی عضله تاورا تاوسوه، چی ورسته بیا د حرکت خخه و لویده. کینو د صدف عضله بهر ته کړه دسپورمی په شان یې گرده او بشپړه مرغاره ولیده چی پر ته وه. د لمر وړانگی چې د مرغاری په سخ ولگیدی، هغه یې صافی کړه او بیا یې داسی وړانگی خپری کړی لکه په سپینو زروچی یې انعکاس کړی وی. مرغاره دسمندری مرغه دهگی په اندازه غټه وه. د اد نړی ډیره غټه او لویه مرغاره وه، جانا خپله خوله پټه کړه اوسا یې ونیوله کینو د مرغاری هاڅگړی اوپټه بیلوری صافه اوښایسته، گرانه اوتوده، زړه وړونکی، خلاندې او هر یالی واوریدله. دلو یې مرغاری په سخ کی یې لیدل چی خوبونه اوخیالونه جوړیږی، کینو مرغاره د مړی کیدونکی عضلی خخه وایسته اوورغوی کی یې ونیوله، بیا یې تاورا تاوکړه اوو یې لیدل چی تول سخونه او پوښونه یې بشپړدی، جانا ور نږدی شوه چی هغه د د ه په لاس کی وگوری دا هغه لاس وچې د پاکتر دروازه پری وهل سوی وه او د گوتو زخم یې د سمندری مالگینو او بو په واسطه خاوری رنگه رنگ نیولی وو.

جانا بی واکه او بی ارادی کویتیتوته چی د پلار په شړی کی پروت وورغله، د سمندری شنو وښو پټی یی تری لری کړه او د کویتیتو

اوږی ته يې وکتل په لوړ آواز سره يې غږ کړ «کينو» .

کينو د مرغلاری څخه ستر گی پورته کړی وو يې ليدل چې پارسوب د کوچنی داوږو څخه مخ په تلو دی او ز هر يې د وجود څخه مخ په وتودی، په دی وخت کی کينو خپل ورغوی په سر غاره راتينگ کړ او تر احساسا تو لاندی ولاړ ، سر يې شاته کوږکو او چيغی يې کړی ، له ډيرو چيغو څخه يې ستر گی سپينی واوښتی او صورت يې شخ پخ شو، د نورو کشتيو خلک سره وښورېدل ، شاو خوا يې وکتل او وروسته يې خپل پاروگان په اوبو کی ډوب کړل پيا د کينو د کشتی وخوا ته په تلوار سره رارهی سول .

دریم فصل

دا بار یوه ځناور ته ورته دی ، هر بار څخه تر ټولو بار رونځه جلا خو یونه او عادتونه لري همدا سبب دی چې په نړۍ کې دوه بار رونه کټ مټ په یوه شان وجود نه لري ، دا چې څنګه په یوه بار کې خبره زر خپریږي او دخبرې خپریدو په سبب پوهیدل مشکل کار دی ، داسې معلومیږي چې په دې بار کې خبرې کوچنۍ هلکان په ډیره بیړه او تلوار یوه او بل ته رسوي ، او یا خو یې بڅې د دیوالو د کړکیو څخه یوې او بلې ته وایې چې خبر یږي .

دې څخه تردې کینو ، جانا اونور د صدفو بڼکاریان د کینو څېرې ته لا نه و رارسیدلې ، د بار خلک د دې خبرې په اوریدو سره چې کینو د نړۍ ډیره لویه او غټه مرغلره پیدا کړې ده په حیرت کې وو ، کوچنیو هلکانو به غوښتل چې دا نوې خبره خپره کړي ، خو د دوې سینډې به تر دوې دې څخه په مطلب پوه وې چې خبره څه ده .

خبره تر ټولو څېر یو ورسیده ، د یوې غښتلې او طوفانۍ څپې په

څېړه پلستر سوی او د بر ین ښارو ر نتوته داخبره د کشیش ترغوږو چې په باغ کې گرځید، هم ور ورسیده ،ددی خبری د اوریدو سره سم د کشیش په ستر گو اندیښمن حالت را پیداسو او هم ورپه زړه سوه چې کلیسا ځینو خاصو جوړولو او ترسیمولوته ضرورت او اړتیا لری ، بیا یې دهغان سره فکر کاوه چې دا مرغلره به څومره بیه ولری ،او په دی خیال کې ډوب وچې آیاد کینو د زوی د نوم ښودلو او د نکاح تړلو مراسیم به ده پای ته رسولی وی .

د مرغلری خبری د دوکاندارانو غوږو ته هم ورسیدی ،داوریدو سره سم یې د نارینه و هغو کالوته کتل چې ښه خر څلاویې نه درلوده داخبره ډاکترته هم راورسیده ، ډاکتر د یوی ښځی سره چې ناروغی یې د عمر پروالی و ناست و ،البته ددی خبری له اوریدو وروسته نه ډاکتر کارکولای سوای اونه یې د هغه ناروغ درمل ،کله چې دا ورته معلومه سوه چې کینوشوك دی ، ډاکتر هوښیار سو ، هغان یې تر یو و نیو و یې و یل «هغه زما مشتری دی زه یې باید لږم چیچلی زوی علاج کړم » . بیا یې ستر گی دمخ په چا غه کاسه کی پورته ورغړیدی او د پاریس په چرت کې ډوب سو .

هغه کوته په یاد ورغله چې ده ژوند په کی کا وه ،او د پر ښا یسته ځای و ،بیا یې هغه پیغله چې د ده سره یې د یوی ښکلی اوسپرانی نجلی په څیر ژوند کاوه ورپه زړه سوه . څرنگه چې دا نا روغه ښځه ددی در یو واړو څخه یوه هم نه وه ،نو ډاکتر خپل فکر اوستر گی د

ناستی نا روغی بښځی څخه وارولی .

ځان پې د پاریس په یوه رستوران کی ناست ولید په داسی حال کی چی یوی پښکلی پېغلی دشرابو پیاله ورته برابروله ، دمرغلری خبری د کلیسا دمخی سلنګا نوته هم ورسیدلی دوی د پر خوښحاله و ځکه دوی پوهیدل که خوار خلک ناڅاپه شتمن سی دوی تر نورو تولوخلکو دخپلو ګناوو د پښلو دپاره د پری غټی غټی صدقی او خیراتونه ورکوی کینو د نړی د پره لوپه مرغلره پیدا کړی ده ، د پنا ر په لو یو اوکو چینو د یوالو کی هغه خلک ناست دی چی د صدفو د پښکا ریانو څخه مرغلری اخلی ، دوی خپلو دوکانو کی په چوکیو ناست دی ترڅو مرغلری وروړی ، بیا د صدف خرڅوونکو سره چنې وهی ، غالمغال کوی د اروی او ترتې پی ترڅوخرڅوونکی وروستی بیی ته غاړه کیږدی دمرغلرو په بیه کی یوه بیه سته چی دمرغلرو رانیوونکی جرائت نه کوی چی مرغلری تر هغی بیی په زیا تو یسو واخلی دا دوه سبه لری یو داچی دوی کوشش کوی چی د همدی کمی بیی په واسطه دا نژاد په ستی ژوندی وساتی په همدی لړه بیه هغوی دځان د پاره دومره دخوراك شیان پیدا کړی چی د صدفو پښکار او پیدا کولو ته دوام ورکړی بل دا چی کله کله داسی هم پیښ سوی چی صدف نیوونکی خپلی مرغلری په د پره نا امیدی او پښیمانی سره په د پره کمه بیه ورکړی او کلیسا ته پې ورپښلی .

کله چی دمرغلرو خرڅلاپای ته ورسیږی نو دمرغلرورانیوونکی

یوازی ناست وی اوپه‌مرغلرو کی خپل لاسونه په کراره کراره وهی‌اومرغلری سره اړوی ، هغوی هم تل داهیله لری چی کاشکی ددی مرغلرو خاوندان وایې دا ځکه د دومره ډیرو مرغلرو اخستونکی نسته په حقیقت کی دمرغلرو اخستونکی یوازی یوسړی دی نور دوکانداران ددی یوسړی مزدوران اوپه دوکانونکی یې کینولی دی ، ترڅو د رڼایت تېرایستلو بازار تودا وساتی دا دوکانداران هم په‌دی‌خبره خبرسول دستر‌گو ترکونجو به یې لاری ته کتل ، د گو توسرو به یې‌سوی کاوه ، هر یوه دا سوچ واهه چی‌ددوی بادار خو به تل ژوندی نه‌وی ، با یه‌یوبل نفر یې‌ځای ونیسی او په‌دی فکر کی وه‌چی څرنگه دیوی نوی‌سرمایې په واسطه په کار پیل وکولای شی . لنده داچی تولو پیریدونکو او هغو خلکو چی نویو‌پښتوپه‌باب یې‌له‌خبرو او اترو سره عادت درلود ، د کینو وخواته یې‌ستر‌گی کیږی سوی وی کینودنړی لوپه‌مرغلره پیداکړی ده دمرغلری گته‌اوهیلی دخلکودگتو اوهیلوسره گډی‌سوی ، هر سړی لاڅاپه دکینولهٔ مرغلری‌سره وټرلسو ، دکینومرغلره ددوی د فکرو ،خیا لو اوپلانو په‌هیلوکی ډوبه‌وه خودوی د خپلو هیلو اوغوښتنو په‌لارکی یوازی یو سړی‌خنډ باله چی‌هغه کینو نومیده. نوله همدی کبله‌کینو دخلکو غلیم اودښمن وگرځیده، دی‌خبرو په‌هارکی یو ډیر بدانعکاس تولیدکوچی ددی تور والی نتیجه

بد لږم ته ورته وه ، یا داسی ښکاریده لکه چی په یوه وړی سړی باندی دتودی ډوډی ښوی ولګیږی او یا خوهغه سړی ته ورته وه چی نوردیار دعشق اوسحبت تمه ونه لری ، دی ذهنی ز هرو په ټول ښار زور واچاوه او دښارو ګړی یې په راز رازاندیښنو کی واچول.

کینو اوجانا په دی شیانونه پوهیدل ، ځکه دوی له ډیری خوشحالی څخه سره اشنا یدل ، داسی فکر یی کاوه چی ټول خلک به دوی په خوشالی کی ورګډوی جان توماس او اپولونیا په دی نړی کی یوازینی دوه تنه وو چی ددوی په خوشحالی کی ګډوو ، له غرمی وروسته چی لمرد جزیره نما وهغی بلی خوا ته په بله بحیره کی مخ په ډوبیدو و ، څپړی د ګاونډ یانو څخه ډکه وه کینو اوجانا یې په منځ کی څنګ په څنګ ناست وو ، کینو لویه مرغاره چی ژوندی اوګرمه غوندی ښکاریده په لاس کی نیولی وه. دمرغاری موزیک د کورنی دخوا په سو زیک سره ګډیده د یوه اوبل خوږ والی یې ډیراوه .

ګاونډ یانو مرغاری ته چی د کینو په لاس کی پرته وه کتل اوپه دی حیرت کی ډوب وو ، چی څرنګه دادو سره بخت اوطالع یوه سړی ته ور په برخه کیدای شی .

جان توماس د کینو وروره ، نوځکه د کینو دښی لاس خوا ته ناست و ، پوښتنه یې تری وکړه :

« ته چې اوس شتمن سوی څه به وکړی؟ »

کینو خپلې مرغلرې ته کتل اوجانا هم ستړګې کته واچولې ټکرې يې په سخ راتا وکو، چې خپل احساسات اوسور والی د نوروځخه پټ کړی، د مرغلرې په پلوشو کې د هغو شیا نو شکل معلومیده چې پخوا کینو د هغو په باره کې فکر کړی واو یا يې کاوه، خو په لاس راوړل يې ورته ممکن کارنه ښکاریده، په مرغلرې کې يې جا نا کم یتیمو اوخپل ځان لیدل چې د قر با نی په لور ځای کینی او ولاړ یږی، او دواده مراسم په ځا ی کو ی ځکه د وی اوس ددی لګښت د پاره پیسې درلودې، کینوورو وویل:

« مورِ به په کلیسا کې د واده مرا سم په ځا ی کړو »

په مرغلره کې يې دواده اغوستې کالی هم ولیدل، جا نانوی شال او نوی لمن چې د نوی توب څخه شخ ولاړ دی ا غوستې و کینو ولیدل چې تر اوږدې لمن لاندې يې بوټونه هم په پښود ی د اتول په مر غلرې کې ښکاریده او شکل يې هلته ځلیده، د کینو هم سپینه نوی دریشی او خولې په سروی خود اواریی خولې د پزې نه وه بلکه د ډیرو ښوورِ یوځخه جوړه شوی وه، د د ه هم د کنډاوو په ځای بوټونه په پښووو. خوکو یتیمو یوازی هغه څوک وچې د امریکاد نا و یا نود ریشی اغوستې او کوچنی خولې يې په سروه د اهغه رنګه دریشی وه چې کینو یووخت په یوه ښا یسته کشتی کې چې دسمندر غاړې ته را غلی وه د یو ه کوچنی په غا ړه ا و

ځان کې لیدلی وه ، دارازشیان کینو په ځلا نده مرغاره کې لیدل نو ویی ویل :

«موږ باید نوی کالی ولرو»

دمرغاری موزیک یې دشپیلی پەشان پەغوږ و کی اوچت سو، وروستەدمرغاری زړه وړونکی سطحی تەواړەواړه شیان چی دکینو په مغزوکی گرځېدل راپورته شو ، یوه دکمپ نیولو نیزه چی د هر پروسږ کالنی ورکی شوی نیزی ځای و نیسی پەدی شرط چی دنوی نیزی کړی اولاستی دواړه پولادی وی ، دکینوخیال اوغوښتنو توپ واهه چی باید یوتوپک هم ولری ، اوس خوشتمن سړی دی کینو په مرغاره کی دستی ولیدل چی دوینچستر لنډی توپکې یې پەغاړه کی پروت دی ، دتوپک درلودل په دی وخت کی بیخی افراطی خوب اوخیال و ، نوله خولی څخه یی ورو د توپک کلمه راووتله بیا یی وویل :« یو توپک هم بنایې » داد توپک کلمه وه چی دده دفکر اوخیال له سخی څخه یې خندونه لری کړل ، څرنگه چی دتوپک درلودل یونا ممکنه کارو ، کینو چی اوس دتوپک خیال یی په سرکی گرزاوه سرته رسیدلی بالله نوتول شاو خوا ناممکنات یې مات شول ، اودایې هم کولای شوای چی خپل خیال په تراټه هری خواته وځغلوی ځکه داډ یر و یل شوی دی چی انسانان قناعت نه کوی ، که چیری هغوی ته یو شی ورکړشی

هغوی نورهم غواړی او دی ته دانسان په خوی او فضیلت نه وایی، حال داچی داسی دانسانانو بهترین زیر کتوب او په والی دی چی هغه د نورو ساکښو څخه چی پخپلو موجود و شیانو یې قناعت کړی دی پیلوی اود هغوی پادار یې گرځولی دی گاونډیان چی پته خوله ناست وو، دکینو دی عجیبو خیالواو فکرو ته یې سر ښوراوه، یوسړی چی په آخیرکی ناست و، دځان سره وښونگید: توپک! دی به توپک ولری.

د سرغلری موزیک تر نورو موزیکونومست شر نگیده جانا پورته کتل او سترگی یې د تعجب په حال کی دکینو شوق او خیال ته نیولی وی، ناڅاپه یې دبرق په شان زړه ته قووت ورغی دخیال فضا یې پراخه شوه، د زاړه تفکرسرحدونه یې توته توته شول کینو په سرغلاره کی ولیدل چی کو یتیتو په ښوونځی کی په یوه کوچنی چوکی ناست دی داچوکی هغه چوکی ده چی کینو یووار دښونځی دیوی خلاصی دروازی هخه لیدلی وه، کویتیتو نوی جاکټ، سپینه غاړه اوور یښمین پراخ کنډوری اغوستی و، پرسړه یې دی په یوه لوی کاغذ پاندی یې لیکنه کوله په دیر قهر او غضب سره یې وویل: «زما زوی به ښوونځی ته ولاړشی».

گاونډیان ددی خبری په اوریدو سره پته خوله شول. جانا زر ساه ونیوله کینو ته یې دکتو په وخت کی سترگی وځلیدی. اوزر

يې کو يتېتو ته چې په غېږ کې يې پروت ووکتل چې وګوري آيا دا به کېدونکی کار وی که نه ؟

دکېنو مخ چې دغيب ويونکی او پوهېږی په شان ښکاريده وويل: «زما زوی به لوست وکړی ، کتابونه به وپوهېږی ، نېږونه به ولوستلای سی ، او داشيان به سوبه آزاد کړی- دی به وپوهېږی او بيا به سونبوپوه کړی». کېنو په مر غلره کی ولېدل چې دی اوجانا دواړه په ځپړی کی دنغری په څاړه ناست دی ، په داسی حال کی چې کويتېتو ديوه لوی کتاب څخه دوی ته لوست کوی ، کېنوووويل :

«داهغه کار دی چې مرغلره به يې وکړی» . کېنو په خپل ټول ژوند کی دومره پرله پسی خبری نه وی کړی ، کېنو نا څاپه دخپلو خبرو څخه ودا ړيد سو تی يې په مر غلره راټول کړ ، رنا يې تری لړی کړه کېنو دا ړيدلی ووهغه دا ړيدونکی سړی ته ورته و ، چې وايې « زه به داکار وکړم » خود هغه کار په کولو نه پوهېږی .

اوس گاونډيان پوهېدل چې دوی د ډيری لو يې پېښی کتونکی او لېدونکی دی ، دوی ويل چې نور به وخت اوزمانه د کېنود مرغلری د پيدا کېدو څخه حساب وشمېری ، او تاريخی مبدا به و ګرځی ، دوی د ډيرو راتلونکو کلو د پاره په دغه شيبه پاندی بحث اوخبری کولی .

کله چې دکېنو خيالونه اوهيلی رښتيا شی ، دوی به وايې

«هغه د پرنورانی سړی وه ، کوم روحانی قدرت ورکړ سوی و ، مرغلره داسی اوداسی پیداسوه ، نه پوهیږی چی د هغه شه بی وروسته هه څومره لوی سړی شو اوخپله داشیان ما پهستر گوولیدل » . اوکه دکینو پلانونه اوخیالونه رښتیا نه شول ، همدغه گاونډیان ډ ښائي ووایي : « داکار داسی پیښ شو ، یادلپونتوب غوندی حالت ورباندی ، راغی په پو چوو پلو پي پیل وکړ ، ، خدای دی سوږ له داسی شیانو څخه وساتی هو ـ خدا په کینو وتر تی هغه باغی سو ـ ژوند څنگه چی وهغسی پي نه څوښت ، نه پوهیږی چی په هغه باندی څه راغلی ـ ماخپله کینو په هغه شیبه کی ولید چی هیڅ عقل پي نه درلود » .

کینوخپل موټی سوی لاس ته وکتل ، دگوتو پندونه چی پي د دروازی په وهلو زخمی شوی ووتراوسه لاشخ وو ، خوزخم شوو ځایونو نری پوست نیولی و .

نیاره وار په وار خپریده جانادخپل تکری څخه دکویټیتو دپاره غوته جوړه کړه چی هغه پخپله غاړه کی هوږنده کړی جانا نغری ته ورغله . سکروته پي دایروڅخه راوایسته پوڅو خاشی پي پی واچولی ورپوی پي کړل پیاداور لمبی تری پورته شوی داورشغلی دگاونډیانو په سخو ډکاریدی ، گاونډیان پوهیدل چی د دوډی خوړلودپاره باید خپلو کوروته ولاړشی ، خو یوه پي هم دتلو پیړه اوهڅه نه درلوده اونه پي غوښتل چی داسی زرولاړ

سی ، د با ندی اوس بیخی توره تیاره وه

د اور شغلود سړو اوشیا نو سیوری د څپری په د یوالوا چولی وو د با ندی څخه د ازو ږ څپری ته را ننووت چې و یل کیده : «روحا نی پلار راځی- کشیش راځی - کشیش راغی» .

خلکو خولی له سرو څخه لری کړی ، د دروازی څخه بهر ته شول ښځو خپل تکری په سخو با ندی را تول کړل ، ستر گی یې ښکته کړی کینو، جا نا اود ه ورور جان توماس پورته سول . کشیش چې سپین ږیری ، د وجود پوستکی یې د زور والی څخه کوت کوت و ، ژو ند ی او تیری ستر گی یې د رلودی څپری ته ور ننووت هغه د ننووتو په وخت کی خلکو ته وویل : «هلکا نو!» ده د هغوی سره تل د هلکا نو په خیر راسه درسه کوله .

بیا یې ورو وویل : «کینو ! ستا نوم د یوه لوی سړی نوم دی هغه د کلیسا لوی کشیش دی» ده خپلی و یناته په د اسی لهجه دوام ورکړ لکه د عا چې لولی «ستا هم نامی صحراورانه او آ باده کړه ، د خلکو فکرو نه یې خوا ږه کړل آیا ته په دی نه پو هیږی دا تول په کتاب کی راغلی دی » .

کینو ژړ د کو یقه تو سرته چې د جا نا نه غیږ کی پروت وو کتل دا یې په فکر کی را وګرځیدل چې کومه ورځ به د اور کوتی پوه سی چې کومی خبری په کتا بو کی سته او کومی نسته ، د کینو د مغزو څخه خو ږ موزیک و وتا وه ځای یې ورو ورو نرمه د سهار نغمه ، د غم

سوزیک اودد بښمن سوزیک شرنګیده ،خو دا سو زیکونه کم زوری او سوکه وهل کیدل. کینوخپلو ګاونډیانو له وکتل چې د اسندره به چا دهمان سره راوړی وی.

کشیش بیا هم وپونګیده :«زه خبرشوم چې تالوی شی پیدا کړی دی ، یوه لویه سرغاړه» کینوخپل سوتی خلاص کړ سرغاړه تری ډکاره سوه

کشیش د سرغاړی دښایست اولوی والی څخه سا ونیوله او وروسته یې وویل :«زه هیله لرم چې دګناهو بښنه هیره نه کړی. زما زویه! هغه چا ته چې تا ته یې د اخزانه د رکړی ده عبادت او دعا وکړه او هغه څوک هم هیر نه کړی چې تا ته به په راتلونکی ژوند کی لار ښونه کوی.

کینو د ګنګی په شان سر وښوراوه ،جانا وویل ،« مقدسه پلاره سوبه داکاوکړو ،اوس به د واده سراسم په ځای کړو ،کینو همدغسی ویلی دی». دې ډګاونډیانو له نوخواته وکتل چې د هغی دخبرو تصدیق وکړی ، ګاونډیانو هم خپل سر ونه وښورول .

کشیش وویل :«چې وینم سودا د خوشالی ځای دی ، ستاسی لوسړی فکرونه اونیتونه ښه دی ،زامنوخدای دی په تاسی ورحمیږی».

ده بیرته مخ واړاوه اوورورارهی سو،خلکوهم لار ورته خوسی کړه چې ولاړسی د کینو لاس بیرته په سرغاړه تینګ راسوتی سو،شا وخواته کړې شکمن وکتل ځکه دده په غوږ وکی دغلیم سندری د سرغاړی د سندری په مقابل کی پوره اوچت آواز کاوه.

ګاونډیانخپلو کورونه ولاړل ، جانا چې د نغری په څنګ کی ناسته وه دیخی سوی لوبیا لوښی یې د او ربه

داور پەشغلو باندی کیښود ، کینو د دروازی خواته تیرسو او دباندی پې وکتل ، دېخوا په شان پې دې پرو اورولوګی ترسیږمو کیده ، داسمان ستوری پې په خپر ګردکی لیدل ، دشپی سرطوبه او لنده هوا پې هم حس کړه او پزه پې تړېته کړه ، کینوته هغه ډنګر سپی راغی د پوښتنی په څېر پې دباد وهلی بیرغ په شان ځان د کینو په پښو کی تېرړا تېر کو کینوکتەوکتل خو هغه پې ونه لید ، اوس دی بیخی پەسړه هواکی دباندی ولاړو ، کینو ځان دیوا زیتو ب ډار او ویری سره مخامخ لید ، دونو ، دچنګښو آوازپې ترغوږوسو او داسی ورته معلومه سوه چی دغلیم آواز د چنګښو داواز څخه راپورته کیږی کینولږغه ولږزیده شړی پې نوره هم پەځان راکش کړه ده لاتراوسه پوری مرغاره پەلاس کی نیولی وه ، مرغاره ښوی اوګرمه سوی وه .

دجانا دسوږسکو تړپ تروپ پې دمخه تردی چی په تبخی واچوی واوریده اوترشا پې دکورنی دسندرې آوازپیشود بچی پەخورخور کی واوریده ، دکورنی ګرانوالی او ساتندو پې ورته معلومه سوه . اوس کینو ددی خبری سره مخامخ و چیرا تلونکی ژوند به پې څنګه وی ؟ پلان یو رښتنی شی دی ، څرنګه چی شیان طرح سوی وی هغسی اجرا اوښپړ کیږی ، پلان چی یووار جوړ او فکرته وسپارل سو بیا د نورو رښتینو شیانو په څېر یو رښتینی شی ګرځی هیڅکله لەمنځه نەځی ، خوپەاسانی سره حملە پې کیدای سی ، د

کینو را تلونکی ژوند حقیقت درلود ، خو څرنګه چې هغه شروع سو نوروقواو هم په کار پیل وکړچې هغه وران اوویجاړ کړی . دی په دی تولو پوهیده او ځان یې مجبورپاله چې دهری حملی او یرغل په مقابل کی ځان چمتو کړی .

کینو پوهیده چې دا ارباب النوع د بندګا نوپلا نونه او نیټونه نه خو ښوی ، دارب النوعه دکوم تصادف نه پرته د چا ډری او ترقی نه خوښوی ، دی په دی هم پوهیده چې دا رب النوعه د هغه چا څخه څیچ اخلی چې دخپلو ستوپه زور لوړمقام او ترقی ته رسیدلی وی البته کینو د بدو نیټو او پخوانیو پلا نوخخه ډاریده ، خو اوس ده خپله یو پلان جوړ کړی و ، چې هغه یې هیڅکله وران او ویجاړولی نه سوای . د حملی سره دمخامخ کیدو دپاره کینو د پخوا څخه ځان د تولی نړی په مقابل کی ټینګ کړی و ، دده ستر ګو او فکر دواړو په ښه دول کار کاوه خطر یې تر پیښیدو دمخه اټکلاوه .

کینو لا په دروازه کی ولاړو ، چې د لری څخه دوه سړی راپکاره سوه ، د دوی سره یو څراغ و چې په ځمکه او د دوی په پښو یې رڼا اچوله . هغوی د څېړی وخواته را کاږه شول او دده دروازی ته راغلل . کینو و پیژندل چې یو ډاکټر اوبل یې هغه مزدوردی چې سهار یې ده ته دروازه خلاصه کړی وه ، د پیژندو سره سم د کینو زخم سوی ګوتی په درد راغلی .

ډاکټر وویل : « نن سهار چې ته راغلی وی زه کور نه وم خو اوس تر تولو کارو دمخه اول ستا د بچی د لمدو دپاره راغلم » .

کینو په وره کی داسی ودریده چی وریې ټول په خپل وجود باند کړ ، د نفرت ، کرکی اوویری حس یی په ستر گو کی را ښکاره سو داهکه چی دسوو کلو غلامی او اطاعت په کینو او دده په نژاد باندی ژوره اغیزه کړی وه .

په داسی حال کی چی سا یې نیولی وه ژریې وویل : «هلک اوس مخ په ښه کیدو دی . »

داکتر مسکی سو خوستر گی یې چی په کسو کی ترکوچنی کوت لا ندی وی پورته نه کړی خو وی ویل : «ملگریه د لړم زهر ځینی وخت دیره بده اغیزه لری ـ داسی به ښکاری چی لړم چیچلی مخ په ښه کیدو دی خو نا خا په اوبې خبره یوف ! » .

ددی د پاره چی داسی وښیی چی څومره زړپه ښیری ، خوله یې د هوا څخه ډکه شوندی یې سره تولی کړی اود یوی چاودنی په شان یې هوا بهرته دخولی څخه وایسته له ، اوخپل تور داکتری بکس یې داسې ونیو چی د خراغ رنا یې ولویږی ځکه دی په دی پوهیده چی د کینو قوم هرمسلک دسامان اوآلاتو سره مینه او په هغو باندی باور اوعلاقه لری .

په دی وخت کی داکترخپله لهجه نرمه کړه «ځینی وخت کیدای سی چی پښه کیږه سی ، یاستر گه رنده سی اویا ملا کړو په سی . آه ملگریه زه د لړم زهر ښه پیژنم اوعلاج یې کولای سم . »

کینو د قهر او کینی ځای وپری او دارته ږ پښود ، دی نه

پوهیده شاپي ډاکټر په‌رښتیا وایي . اوده دا نه‌غوښته چې خپله خرګنده ناپوهي د ډاکټرد پوهې په‌مقابل کې کیږدی ، دی د نورو خپلو خلکو په‌شان په لوسه کې ګیرسوی وو ، اودوی په دده د وینا سره سم ترهغو پورې په‌دی لوسه کې ګډوډ ترڅو چې دوی د پوهیږی چې رښتیا دغه‌شان په‌کتابو کې راغلی‌دی که‌نه ؟

کینۍ اوس د دوولارو په‌منځ کې حیران‌دی له پوی‌خوا د ډاکټر هغه کرکه اونفرت اوبلی خواته دکویټو ژوندی پاته کیدل. کینو په‌وره کې پوی خواته ودریده ډاکټر اوس دوریې دواړه څپړی‌ته ننوتل ، د ډاکټر د ننوتو په‌وخت کې جانا د نغرې هغه پورته‌سوه اوهغه‌ته‌یې شاکړه اوپه تکړی یې مخ پټ کړ ، کله‌چې ډاکټر خپل‌لاس د پوښتنې د پاره ور ورانډی‌کو ، جانا په‌کوچنی کویټو باندی وغوړیده اوهغه ځای‌ته چې‌کینو ولاړو اوداور شغلو ته یې سیوری ښکاریده کټل . هغه‌وخت چې‌کینو سر وښوراوه جانا کوچنی ډاکټر ته‌ور پریښود ، چې‌ډاکټر کوچنی وروا خلی .

ډاکټر وویل : « پورته یې ونیسه » . مزدور څراغ جګ‌ونیو ، ډاکټر دیوی شیبې د پاره هغه زخم ته چې د کوچنی په اوږه کې و وکټل بیادهغه‌شیبې د پاره په فکرکې سو ، و روسته یې د کوچنی د سترګو زیږسی پورته کړی .

اود سترګو ګسوته یې‌وکټل سر یې‌و ښوراوه ، کویټو هم د خپل خلاصون د پاره لاس اوښتی وهل.

ډاکټر وویل «څه چې ما فکر کاوه هم هغسې ده، زهر دننه نښوتې دی او زړه په کار پیل وکړی، راشه وګوره». ډاکټر زیږمه لږ څه کته ونیوه وګوره سترګه شین ښکاره ده. کینوپه داسې حال کې چې وارخطا وه، ویې کتل چې په ربړټیا سره سترګه شین ښکاره ده، دې نه پوهیده چې سترګه تل همدغسې شین ښکاره وي که نه؟ خوله مه اینږدله سوې وه، د خلا ضمون هم کومه لاره مؤ ځوده نه وه.

ډاکټر سترګې چې په چاغ سخ او کوچنیو کاسوکې پرتې وې او به پیدا کړې. هغه وویل زه به زیار وباسم چې کومې ته څه دوا ورکړم چې د زهرو سخه ونیسي». هلکې پې پرته کینوته ورکړه

وروسته پې له خپل یکس څخه د سپینو پوډرو یو ورې بوتل او یو کپسول راوایستل هغه کپسول د پوډرو څخه ډک کړاوو پې تاړه وروسته پې یوبل کپسول هم راپرکړله دی وروسته پې پوډره سمه توګه کارته دوام ورکړ کوچنۍ پې را وا خیست او د هغه په لاندنۍ سونده پې زوروکو، ترڅوچې خوله خلاصه کړی، د ډاکټر غټو ګو توکپسول ستونې ته نږدې کیښود په داسې حال کې پې کیښود چې کوچنی هغه دپاندې نه سوای غورځولای. وروسې پې د څپړې د غولې څخه پلکیو راو اخیستل او کوچنی ته یې ورکړل، «کله چې دا کار پای ته ورسیدو بیا پې د کوچنۍ دستر ګو کسو ته وکتل او خپلې سونډې پې تولې کړې، د اسې معلومیده

چې ګوندې فکر کوې .

کوچنۍ پېښېرته جانا ته ورکړ ، او دې د کینو خوا ته راوګرځېده وې ویل : «زه فکر کوم چې زهر به یوه ګړۍ ور وسته حمله وکړي خو بس پې چې دوا کوچنۍ د زهرو څخه وژغوري ، زه یو ساعت وروسته بیا راځم اوکوچنۍ به د حملې تر رسید و د مخه وژغورم» . ډاکټر یوه اوږده ساه وایستله او د څېرې څخه راووت او نوګر پې څراغ په لاس ورپسې روان شو جانا اوس هلک ترخپل تکرې لاندې نیولی و ، په غمجنو او وېر جنو ستر ګو یې هغه ته کتل ، کینو جانا ته ورنږدې شو تکرې پې تړلې کوا و هلک ته ځیر شو لاس پې اوږد کړ چې د هلک زیږمې وګوري ، په همدې حال کې پې په مرغلره ستر ګې ولګیدې چې لاتر اوسه پورې پې په لاس کې نیولی وه ، بیا د هغه صندوق وخوا ته چې د ډیوال پېخ ته ایښی و ، ورتیر شو د صندوق څخه پې یوه توته را و ا خسته او مرغلره پې په کې ونغښته او بیا د څېرې کونج ته ولاړ ، هلته پې پخپلو ګوتو سره په خاورین غولی کې یوکوچنۍ سوري جوړ کو او مرغلره پې په کې کېښوده ، سوري پې پټ او غولی یې هوار کو ، د سوري نښې اونښانې پې پټې کړې ، بیرته د جانا خوا ته چې نغرې ته نږدې ناسته وه اود کوچنۍ مخ ته یې کتل راغې .

ډاکټر په خپل کورکې په چوکۍ ناست و ، اوخپلې ګړۍ ته پې کتل مزدورانو پې دشپې دوډۍ چې چاکلیټ ، خوا ږه کېک

اوهه‌میوه وه ده‌دپاره راوړل ،اودی هم په‌داسی حال کی چې‌راضی‌نه ښکاریدو په بی‌اشتهایې سره دډوډی په‌خوړلولګیاسو.

دګاونډیانو په کورو کی دلوسړی‌محل د پاره دداسی‌پېښی په‌شاوخوا کی‌خبری کیدی چې‌په‌راتلونکی وخت کی په‌ددوی هرورځنې بحث وی‌وېل به‌یې: دا‌به‌هغه شی، نورپه‌هه وشی، یوه اوبل ته‌یې دخپلو ټوګوتو په واسطه‌دمرغلری‌لوی‌والې ښوده اودمرغلری ښکلا به‌یې دخپلو وړواکتو سره ډوډمای‌بیانوله، ګاونډیانو سر د اوسه کینو اوجانا ترنظرلاندی‌نیولی وو، چې آیا شتمنی‌اودولت‌ددوی‌فکرونه‌دلوړوشتمنو په‌شان‌بدلوی که‌نه؟ هکه دوی‌ته معلومه‌وه چې‌شتمنی دټولو فکرونه بدل کړی دی، اوله سمې‌لاری‌څخه نې ایستی دی،ټول ډوهیدل‌چې داکترولی راغی،په‌دی هم‌ښه ډوهیدو چې‌خپله دوه (دوروی) نسې‌ټولای اوداکترهم‌په‌دی ښه ډوهیدو چې‌خپله دوه‌سخی نسې‌ټولای.

دغه‌رډو څخه‌لږ لری ډوی‌دلی کبانو اوبه ډیری‌کولی اوټپه‌ټیدل‌اوله شا‌یې‌ډوی ډلی دلی لویو کبانو وړېسی منډی‌وهلی غوښتل‌ې چې‌هغوې‌خپله ګواله کړی ، صدف نیوونکو د‌کوچنیو کبانو دټپښتی اودلویو کبانو دغو ټوډهلو آواز تل اوریدل، اودا دمرګونو آواز ترغوچې لوی‌او کوچنی کبان موجودوی اوریدل کیږی‌به، بخار اولنده هوا دخلیج څخه پورته‌شوی‌وه دخلیج هوایې خړه کړی‌وه، دالوندوالی او بخار د کاکتوس د‌ټولواد خلیج دغاړی‌په‌ونود خړو غاښکو په‌شان پروت‌و،سوړ کانو دشپی هلی‌ځلی‌شروع کړی‌وی ، اودشپی ګرځیدونکوبازانو په ټه‌او کراره د هغو ښکار کاو.

دنگروچ کلک سپی چې په سترګو کې یې داور دشغلو زنا د کوچنیو بخرکو
پەشان بریښیدل د کینود روازی ته ودریده اودننه یې کتل، څه وخت چې د کینو ورنام
سو هغه لکې اودوجود آخیری برخه وشورول، سپی څېری ته وردننه سوپه داسی حال
کې چې دسترګوځخه یې اوبه بریښیده، د کینو د ډوډی خوړلو انداز یې کوله، کینو
د ډوی کوچنی کامی ځخه لوبیا وخوړله، دسورسک په یوه ګوله یې ګامه پاکه او
ګوله یې خولی ته کړه اوبیا یې د پلکو په یوه غرپ سره ګوله کیدی ته شیوه کړه.

کینو د ډوډی خوړلو ځخه نورخلاص و، اودسګریټ په تاوولولګیاسو، په دی
وخت کې جانا ناڅاپه غږ کړ: «کینو». ده هغې ته وکتل، اوچت را پورته سواو د
هغې خواته ورغی ځکه ده هغې په سترګو کې د دار اووېرې نښې ولیدلی، دی د
جانا په سرودریده کنه ځیرسو، ځرنګه چې زنا کمه وه، دوچوخاشو ځخه یې سوتی دلاسه
ګرو اوپه نغری کې یې واچولی، دلمبو په پورته کیدو سره یې اوس د ګلو پتوتو
ـــخ لیدای سوای، د کـــوچنـــی ســـخ تک ســور اوشین و، ستونـــی
یې غږ اکوله اودخولی ځخه یې تنګی نارې رابهیدلی د ګیدی عضلویی په شخوالي
بیل و ګرځیدلی چې کوچنی د پورسخت ناروغ دی.

کینود خپلې پښتی په ځنګ کې کیناست اووېې وېل: «څرګنده ده چې ډاکټر پوهیده
کینو داخبره دځان اودخپلې پښتی د پاره وکړه، ځکه د ده مغزو کار نه کاوه په دوا یې
هم پا ورنه درلود، او هغه سپین پوډر یې هم د پاده نه وتل، جانا کوچنی له یوه ارخه په
بل ارخ کاوه، اود کورنی غزاله یې دځان سره وبله چې ګوندی دازمزمه به کوچنی
دخطر ځخه بچ کړی، خوسره له دې هم کوچنی د جانا په غږ ګې تاویده او قې یې
کاوه، په همدی حال ګې کینو د پرغمګین و، په دوا باندې یې باورنه درلود او دغلیم

موزیک یې هم په سر کې چور ولوید ، د ی سوز یک کینو دو سره ځور اوه ، چې د جا نا
دسندری آواز یې هم دسره ځخه ووت .

دا کتر خپل چا کلیت وخوړل ، د کیکوتوتی یې دسیزله سره ځخه تولی او گو تی
یې په یوه دسمال سره پاکې کړی ساعت یې وکوت راولاړسو اوخپل کوچنی بکس
یې را واخست .

د کوچنی دناروغی آواز د یرزړه ځپړیو کې خپورسو ، ځکه د غږ یې او یې وزلو
انسانانو د یارله لوړی وروسته ناروغی دو هم د ښمن ګنل کیږی ځینو به ورو ور و یوه
اوبل ته ویل : ګوره نیک سرغی اوښه ژوند ، نوربد اونا و ړه سلګری هم د ځا ن سره
راو ړی » .

په داسی حال کې چې د کینو د ځپړی خواته را پاځیدل ، د یوه او بل خبری به یې
دسر په ښورو لوسره سنلی . ګاو نډ یان په ډیره په داسی حا ل کې چې د یې د سړی
او لندی هواځخه ښې کړی وی په توره تیاره کې بیاد کینو په کور کې سره راتول
سول دوی د یوه اوبل له اوږدځخه دسخه وخواته کتل ، دوی په دی پا ندی چې
د خوشالی په وخت کې غم او ویر ډیر سوی دی خبری کولی او هرچا د خپل نظر بیان
کاوه اووبل یې : «تول ګارونه د خدای په اراده دی او کیږی» . سپین سری ښځی
د جانا په ځنګ کې کیناستلی هځه یې کوله چه د جانا سره کومک وکړی او که یې
کومک دومه ونسو لږ تر لږه خو باید هغې ته داډ ګرنه ورکړی دا کتر په داسی حا ل
چې مزدور یې ورپسې و ، په ډیره ډیره ځپړی ته ننوت ، زړی ښځی یې د چر گی د بچو
په ځیر د جانا له شاو خوا ځخه لری کړی ، کوچنی یې راواخست و یې کوت ، په سر یې
لاس ورکیښود ویې ویل « زهر و خپل ګار ګړی د ی زه په خپل زیار و باسم » ده اوبه

وغوښتی‌اوبه ښوه‌پیاله ا وبوکی‌یی دری‌قطری اسونماگ واچول ،دکوچنی خولـه یې‌په زوره بهرته کړه‌او پیاله‌یې‌په‌خوله‌کی ورتشه کړه . کوچنی ددوا خورلو لـه وخت کی ددا کتر ترلاس‌لاندی‌چیغی وهلی،جانا کوچنی به ډونیو لو سترگو سره کوت دا کتر د کار‌به‌وخت کی‌لږی‌خبری کولی «داډېر د خوښی ځای دی چی زه‌دلرم به‌زهر وښه‌یوهیږم» . ددی‌دپاره چی د زهرو اغیزه و ښی خپلې ا و یې یې وښو ولی .

کینوویا هم بدگمانه اودډاکتر به‌علاج‌یې باورنه در لو د او خپلی سترگی یې ددا کتر دخلاص‌بکس اوبه بکس کی‌دپوډرو له بو تل څخه نسوای لږی کولای وروډرو دکوچنی دلاړو هیدل ودریدل ،کوچنی‌دډاکتر ترلاسو لاندی‌آرام سو .

څرنگه چی کویټه‌تو ډډپروهلو ځلو څخه ستو مانه شوی و نو تربوی اوږ دی سا اچولو څخه وروسته به درانه خوب ویده سو .

ډاکتر کوچنی بهرته دجانا‌به‌غیږ کی واچاوه اووې‌وویل: «دی به ډېرزرښه شی زه به دی جنگ او جگړه کی برپالی شوم » . جانا دآفرین او شا باش به تو گه ده ته و کتل .

ډاکتر دخپل بکس دتړلو په وخت کی ووېل : « څه فکر کوی ز ما فیس به څه وخت راکړی » . ده داخبره به ډېره مهربانی سره ادا کړه .

کینوورته ووېل : « هروخت چی ماخپله سرغاره خرڅه کړه فیس به درکړم». ډاکتر‌به ډېره سینه پوښتنه تری وکړه « ته سرغاره لری؟، څه سرغاره ده؟».

ډډا کتر ددی پوښتنی سره سم دگاونډیا نو زوړ پورته شو او ناری یې کړی: « ده دلږی خورا لویه او څټه سرغاره پیدا کړی ده » . دوی د خپلو بټوگوتو په

ټولو سره د سرغاړی غټوالی ډاکټرته وښود . دوی وویل : « کینو به د ډیر شتمن سړی، د د ی سرغاړی جوړه تر اوسه پورې هیڅوک نه لیدلی » .

ډاکټر په داسې حال کې چې هکټ پکټ ټاټی و ووېل : ما په دې باب څه نه دی اوریدلی ، ته دا سرغاړه په کوم خوندی ځای کې ساتی ؟ او یا ټاټاپې چې زه یې بخیل صندوق کې درته وساتم ؟ » .

د کینو تندی ترېو او سترګې یې ټینګې شوې وېې ووېل :« ما هغه خوندی ساتلی ده ما یه یې خرڅه کړم ستا حق به درکړم» . ډاکټر خپلې اوږې وښورولې خو له اوبو د کې ستر کې یې د کینو له سترګو نه ډډ ورته کړای، ده باور دراوده چې سر غاړه د هیرې په غولۍ کې خښه شوی ده ، او فکر یې کاوه چې ټا یې کینو هغه ځای ته چې سرغاړه په کې خښه شوی ده وګوري ، نو ډاکټر ووېل : « دا یه ډېر ناوړه ګار او لوبه بد سرغې وی چې د خر ځلاو د سخه یې هوك د رځخه غلا کړی » . ده ولیدل چې د کینو سترګې وېرېښېدې، ناڅاپه اوبې اختیا ر ه یې ستر کې د هیرې د غولۍ هغه ځای ته کیږې سوی چې سرغاړه په کې خښه و ه .

هغه وخت چې ډاکټرولاړ او ګاونډیا ن هم زړه نا زړه خپلو کورو ته ستا نه سول . کینودنفرې په ځنګ کې چې تراوسه پورې لانرې نرې شغلې تری پورته ګیدې کیناست اودشپې زوړ ته یې غوږ ونیو ، د سمندر د کوچنیوشپو آرام اوسنظم آواز ، د لرې سپو غما ، په هیرېو کې د حشراتو د تګ اوراتګ څرپا او په هیرېو کې د ګاونډیانو ورو زوړ آوریدل کیده .

په هیرېو کې خلکو آرام خوب نه درلود دوی به د ډیوی شپې د ډاره ویده وه ،

بیا به یې رته راپورته کېدل اوبودبل سره به لږ څه ګړ یدل اوبیا به یې رته ویدیدل، ترهوشیږو وروسته ګینو هم دنغری څخه پور ته سو او د خپلې خوږې د درو ازی خوا ته و لا ړ، د ه سړه هوا په یزه ګش کړه او په د یر ځیر سر ه یې هر دیاندیخې نا اشنا آوازته چې راپورته کیدو غوږنیو، په تیاره هوا کې چه ځیر سو څکه د غلیم سوزبک یې په سرکې چور ربده‌له همدې کباله یې په‌ترس اوو یره ګې غوږ لیولی و، ور و سته له هغه چې پخپلو حواسو یې شاو خواو ځیرله بیا ورو ورو د هغې ستن خواته چې مرغلره یې په ارخ ګې خپه وه ولاړ، مرغلره یې د خاورو څخه راواستله، او تر خپل تلتک لاندې یې په خاوره کې پوښل کړې و ګنده او مرغلره یې په کې خښه کړه.

جانا چې دنغری په غاړه ناسته وه دګینو دا کار یې په حیرا نتیا سره ګوت کله چې ګینو مرغلره خښه کړه دې تری پوښتنه وکړه: «دچا څخه وېریږی؟».

ګینو دیوه رښتینې ځواب په فکر ګې سو اوبه آخیر ګې یې و رته و و یل: «دهرچا څخه». ددې ځواب په ورکولو سره ګینو حس کولای سوای چې په شاو خوا یې بند او محکم دیوال چې دهری حملې څخه ونیسی راچاپیر سو. ور وسته له هغه وخته دوی دواړه دخوب په تلتک پرېوتل، جانا نن شپه خپل زوی په زانګو ګې ویده نه کو په داسې حال ګې چې دګوچنی په‌مخ یې تکری اچولی و په غیږ کې یې پروت و، دنغری وروستی شغلی هم ورو ورو خا موشه او سړی سوی خو دګینو ماغزه په خوب کې هم په ګرار نه‌سول، ګینو خوب‌لیده چې کوښتیتو کتاب لوستلی سی یعنی داچې دده دتېر څخه پو سړی کولای‌شی چې ده‌ته‌حقیقت

او ږښتیا و وایې ، ګینو دا هم په خوب کې و لیدل چې ګوښتۍ ټولوی کتاب ټولی ، دوسره لوی کتاب لکه دیوی کوټی په شان او توری پې دسیو پشان غټ وو ، د کتاب پهسخ پې مستی او هلې ځلې کولی وروسته د کتاب په سخ تو ر ه تیاره خپره سوه ، او دتیاری سرهسم دغلیم دسوزیدک آواز را پورته سو ، کینو پخپل خوب کې وغوږنحیده ، ددې په ښوریدو سره دجانا ستر ګی ر و نې سوی ، کینو هم را بیدار شو ، توره تیاره وه ، ځرنګه چې دغلیم سوز یک په وجود ګی ځپی وهلی نو د هر آواز داوریدو دپاره پې غوږونه ځیر کړه .

لږ وروسته د ځپړی د ګونجک ځغه وروا واز وا و ر ید ل سو ، دوسره ورو چې ډوازی فکر کیدای سو - وړېسی ورو ډېنو ځرپا چې په غولی کشیدلی،داوډدی ساه نیولو آواز چې په ا سانی سره داوریدو نه خوږه سختي سره اوریدل کیده .

کینو دآواز داوریدو دپاره خپله شاه و نیو له ، او پوه شو چې هغه تور شی چې دده په ځپړی کې و ، دغوږ نیولو دپاره خپله سا ونیوله ، خودغه شیبی دپاره دځپړی د ګونجک ځغه کوم آواز پورته نسو ، ګینو فکر ګا وه چې دا یو ا ز ی خیال او بی ځایه تصور دی ، خو په همدی وخت کې جانا ورو خپل لا س کینوته وغزاوه او د ی پې دخطر ځغه خبر ګو ، په دی حال کې آواز پیاپیدا سو ، دا آواز ډېنو ځرپا او دګوتو آواز و چې په خاورو کې پې غه شی پلټل . د کینو وجود سر تر پایه پوری ډار او ویری ولړزاوه ، او دیخوا پشان پې له ویری وروسته په وجود ګی قهر اوغضب راپورته سو ، د کینو لاس خپلی سینی ته چې هلته پې چاره په یوه تار ځړولی وه وغزید ه اوپیا لکه پوقهر جن ځناور غوندی را و غورځیده ، او د هغه تورشی خواته چې دځپړی په ګونجک ګی وه بریدیی ږی و ګو.

دده دتورشی په جامو او کالو باندې لاس ولګیده ،جا ړه یې د هغه خواته وړاندی کړه ، چاړه تری خطا سوه بل واری یې بیاچاړه دجامو خواته پوری وهله ، داواری ورته معلومه سوه چی چاړه په جامو کی ننوته، په دې وخت کی یې په سترګو تیاره او په سریی ډیر سخت درد حس کړ، په همدی وخت کې یی د دروازی څخه د پښو آواز چې په منډه کی وی واوریده ،دباندی څخه هم ترخوشیبو پورې دګامو آواز چی په منډه کی وواوریدل کیده وروسته بیا چوپه چوپتیا سوه .

کینو دګرمو وینو بهیدل چی په تندی باندی یې را روانی وې حس کړل ،دجانا غږ یې هم چی له ویری څخه ډک واوریدل چی زارې وهلی « کینو! کینو! » د کینو قهر سوړسو ،بیرته زړآرام سو اوویې ویل :« زه جوړیم هغه وتښتیده » کینو بیرته د خوب د تلتک وخواته راښوډې سو،په همدی وخت کی جانا په نغری کی داور په بلیدوسوه دی داور یو ، سکروټه دایرو څخه رالوڅه کړه دجوارو دتانټو کوچنی خاشی یې ور باندی واچولی اوورپو یې کړل او له نغری څخه یوه کوچنی لمبه راپورته سوه،چی د څپړی په دیوالو یې رنا یې واچوله ،جانا دخپل غوټو څخه یوه کوچنی دم کړی ډیوه چی کشیش دم اودعا پری ویلی وه راواخسته ،داور دلمبی څخه یې رنا کړه اود نغری په یوه ډبره یې نیغه ودروله، جانا سره له دی چی ډبره ویریدلی وه، له ځان سره ښه بله اوپه ډبره چټکتیا سره لګیاوه .دې دخپل تکری پیڅه په اوبو کی ډوبه کړه اود کینو دزخم سوی تندی څخه یې وینی پې پاکولې ،کینو وویل «څه نه دی سوی خویزنه یم »خوسره له دې یې هم له سترګو غږ ید و څخه دقهر غضب او ډار نښی ښکاریدې ،وارپه وار یې کینه اونفرت په وجود کی زیاتیدل .

هغه قهر اوغضب چې دجانا په وجود کې راغوند سوی و، وچاود، سوندی یې نری سوی اوپه زوره یې چیغې اوکړې کړی: «داسی دښمن دی دامرغلره پوه خپښه روح ده ،دابه موږ ورك اوبرباد کړی ،په داسی حال کې چې آواز یې لرز پیدا وویل : «وی غورځوه ، کینو! ددوو دیرو په منځ کې یې سپه سپه کړه، رالحه چې چپرته یې خښته کړو اوبیا ای یې بیخی هېر کړو ،رالحه بېرته ای په سندګی وغورځوو ،دا زموږ غلیمه ده . کینو زما خبرتنه ! دابه موږ ورك اوبرباد کړی ،جانا داور په شغلو کې لمده کیده چې سوندی یې د و یری څخه لرزیدی .خود کینو د ښې څخه د اسې معلومیدل چې خپل تصمیم یې نهولی دی اوویې ویل :«دازموږ پوازینې چانس دی ،زموږ کوچنی باید حتمی پوونکی ته ولاړسی ، هغه حتمی بایدله دې جیل څخه ووزی چې موږ به کې بندیا ن پو ».

جانا چیغې کړې: «یې دابه موږ ورك او بر باد کړی ،حتمی زموږ زوی به هم راڅخه واخلی ».

کینو وویل : «چپ سه ،زهاتی نوری خبرې سه کوه ،په سهار کې به موږ سرغلره خرڅه کړو ،نوربه دښمن ورك وی اویوازی نیک سرغی به پاته سی، زما میرستنی نورشور ماشورپس کړه». ددې توری ستر ګی دنغری په کوچنیو رانګو کې خښې وې، پام یې سوچې چاپیلا ترا وسه پورې په لاس کې نیولې ده ،د هغه تیغ یې و کـو ت چې دوینو نری لیکه یې پرته ده ،غوښتل یې چې دچرې تیغ پخپل پتلا نه پا ند ی پاک کړی ، خودد ی کار څخه بېرته تېرسو اوچاړه یې دغولی په خاوروباندې فینی ایسته اوپاکه یې کړه .

چرگ غیږو ، دچرگانو آوازونه دلری څخه اوریدل کیدل ، سپیده داغ وهوا هم رنا کیدله او سهار رانیږدی کیده . دسهارباد دسند څپی دمانګروز دونوله رهیږو سره وهلی ، چې زړه وړونکی آواز تری پورته کیده او کوچنی څپی یې دسند دغاړی له ډیرو سره چې وارپه‌وار یې آواز لوړیده لګیدلی ، کینو خپل تلتک پورته کو مرغلره یې‌راوښکه اوپخپل مخ کې‌یې کیښوده بیاورته ګیرسو .

دمرغلری ښکلاچې داورپه کم رنګه‌شغلو کې ځلیدله ، دکینو سد یې له سره وایست ، دومره ښکلی اوګرانه وه چې خبری‌یې‌تما می وې .

اوخپل دخوښی موزیک هم‌تری‌اوریدل کیده ، دهغی موزیک‌د خوشحالی اووعدی‌موزیک وه‌دراتلونکی هوسا ژوند ضمانت‌یې کاوه ،دهغی ګرا ن اوروږمخ دنارغتیا دظالمانو د سپک نظرپه مخ کې لوی‌اومحکم دیوال وه هغی دلو ړی دروازه دکینو اوجانا پەمخ ترله ،څه‌چې نورهم ورته ځیر سو سترګی یې رونې او تندی یې‌وغوړ ید ،دەد شمعی کوچنی‌تصویر دمرغاری په ښکلی مخ کې ولید او بیایې دسند ښکلی‌او زړه وړونکی موزیک چې‌د سند دشنواوځلاندو اوبولە زړه‌څخه راخوت ترغوږ وسو .

جانا کینوته دسترګو له کونجو څخه کتل، وبې‌لیدل چې دکینو خوله‌دخندا څخه ډکه ده ځرګنه چې دوارو پەژوندانه کې‌بوه لاره اوپولیت‌در لو دنودا هم‌له ده سره یوځای پەسسکا شوه .

دوی‌دوارو پەنوی ورځ کې له‌ډیرو لو یو اوګرانو هیلوسره‌ګام کیښود .

څلورم فصل

دایوښکاره حقیقت دی چې کوچنۍ کلی اولوی ښارونه خپل تیر تاریخ ساتي ،او و
دهر یوه کلیوال کهنروی یاښځه او که کوچنۍ ځپل دود اوډستور سره سم حرکت
کوی ، کوم مشکل نه وزغه پیښیږی اودنورو سره هم څه فرق نه لری، نوی شی اونوی
لاره هم منځ ته نه راوړلی ، نوساغزه اوفکر یې هم آرام وی ، د کلی اویا ښار درواج سره
سم حرکت او تکامل کوی ، خوښار او کلی څپله عضوه ډېره ژرهیر وی ، چې بیا
دهغه په باب څه نه اوریدل کیږی . که ونشوچې یوسړی د کلی دمنل سوی فکراویا
دهغه دود اودستور څخه چې په کلیوالو کې یوه منل سوی حقیقت دی غاړه وغړوی، نو
د کلی د خلکو ذهنونه زرسره وګرځی ، دا پیښه اوخبره د برزر په کلی کې خپه یږی ، هر
څو ګټ هغه کوی چې دا پیښه اوخبره د کلی اوسیدونکو ته ورسوی په دی برخه کې
کلی اوښار دیوه عصبي سیستم غوندې دی .

په همدی اساس په لاپازکې لاسهار وختی د ښار اوسیدونکی خبروو ، چې کینو
نن خپله لوبه اوغټه سرغړه خرڅوی په دې خبره په ځیږوکې هم ټول ګاونډیان

خبرو و ، صدف نیوونکی هم په دې پوه وو ، تولودو کاندارانو په دې برخه کې هو ره معلومات درلوده ، کلیساته هم داخبره رسولی وه ، په دې باره کې د کلیسا د ملکانو د کورس ډلو د یواوبل سره په غوږو کې ګنګوسې کاوه ، خبره د کلیسا راهبانوته هم ورسیده ، اود کلیسا دمخ سوالګرو هم په دې باب خبرې کولې ، ځکه دوی هم غوښتل چې د هغه ځریب سړی چې داول ځل دباره شتمن کیږی ضدقه اوخیرات یې و اخلی کوچنیانو ملکانو هم په دې برخه کې تودې خبرې کولې ، خوترټولو زیات دسرغلرو اخستونکو په دې برخه کې زیات معلومات درلودل ، دوی هریو په خپلو د کانو کې ناست و ، هغه سرغلرې چې په پتنا سه کې به ورته ایښې وی په ګوتو سره ازولې ، دسرغلرو داخستلو په برخه کې به یې دخپل کار اوفعالیت اثکل کاوه .

په ظاهره کې سړی داسې فکر کاوه چې دسرغلرو اخستونکی هریو خپل ځانته ګټه او کار کوی ، چې دسرغلرو په رانیولو کې دیوه اوبل په ضد باندې بیه کښته اوهو ر ته بیایې ، البته چې له پخوا یې دغسې شکل درلود ، خودا ورته معلومه سوه چې د هغه لاردیر ټاوانلرې اوسرغلرې ارزانه نه تمامیږی ځکه کله کله داسې هم پیښیده چې یوه اخستونکی به دیوې ټکلې سرغلرې دپاره دنورو درقابت اوسیالی د پا ره ضد ف خرڅوونکوته دیرې پیسې ورکولې .

خواوس په ټول ښارکې دسرغلرو یوازې یواخستونکی و ، چې دنورو په لاسویې کارکاوه ، هغه سړی چې د کینو راتاو ته یې سترګې نیولې و ی پخپلو منځو کې سره پوه و و ، چې باید کومه بیه دسرغلرې درانیولو اواخستلو دپاره وراندې کړی او ترکومې بیې پورې پخپلو منځو کې رقابت اوسیالی سره وکړی ، اوهر یو څه ډو ل

چالونه دمرغلری داخستلو دپاره په کارواچوی ، په دې معامله اوراکړه و رکړه کی دوی ته ترخپل معمولی معاش څه زیات شی په لاس نه ورتلل .

دخپریو زوړ او حرکت دمرغلرو اخستونکی په خپلو دندو کی سخت مشغول ساتلی وو، هغه چاچی کولای سوای دمرغاری بیه تمته راولی او بیه بیې بیه تمته کړی او تر تولو بې په کمه بیه واخلی ، دا یې خاصه خوشالی او آرزو وه، هر سړی په دې لحاظ کی دخپل بیت او فکر دقباولو دپاره اخیری هڅه کوله چې تر ممکنه حده بې سرته ورسوی، بی له دې څخه چې د کوم بخشش ، صفت او یا لورمقام وعده ورکړه سوی وی ، دا به پریږدو څکه دمرغلرو اخستونکی خو هغه دمرغلرو اخستونکی دی چې یوازینی خوشحالی یې په دیره کمه بیه دمرغلرو اخستل دی .

په دې سهار لمر ډیر تودو ، دسند دغاړی لوند وا لی یې په بخار بدل کړی او د خلیج دپاسه دغبار په څېر ښکاریده هوا ځپانده وه ، لیدنې او کتنی دسهراب شکل پیدا کړی و، دښار دشمال وخواته په هوا کی دیوه غره منظره چې . . ۲ میله لری اتکل کیده لیدله کیده ، دغره دېری لوړی برخی د کاج په ونو پټی ، د ونو له منځه یوه لویه او جګه دېرینه څوکه راوتلی وه .

دا سهار تولی کشتی دسند په غاړه پاتی سوی ، په دې وخت صدف تو لوونکو به صدفو پسی په سند کی غوتی ونه وهلی ، څکه نن وخت دیره مهمه پېښه پېښېده، صدف نیوونکو غوښتل چې د کینو دمرغاری خر څلاو اود هغی په باره کی پېښی له نږدې څخه وویني .

دسند په غاړه په څپریو کی د کینو گاونډیان دسهار په ناری باندی تر نورو

معمولی ورځو ولخوږدل، دوی په دې برخه کې خبرې کولې ، که چیرته دوی دا سر غاره پیدا کړی وای څه به یې کړي واي یوه ویل : ما به دا سر غاره مقدس پلار ته روم ته دسوغات په ډول لیږلی وای. بل ویل: مابه ددې سرغاړی په واسطه دزرو کالو رایسی دخپلې کورنۍ گناوی اخستی اوښښلی.وای .څلورم نفر دا سې وویل : چې مابه ددی سرغاړی پیسې دلاپاز دټولو غریبانوپه منځ کې ویشلی وای . یوه بل وویل : چې مابه ټول هغه ښه شیان چې په پیسو لاس ته رانۍ ددې سر غاړی په پیسو اخستی وای لکه سپی صد قې او دآزادی له ټولو گټو څخه چې یوه شتمن ته برابر یږی گټه اخستی وای، ټولو گاونډ یانو هیله درلوده چې باید د کینو فکر په دې ناڅاپه شتمنی بدل نه سی ، اودنورو شتمنو په څیر غدار،ظالم اودخپل تبر څخه بیزار نسی ، څرنگه چې کینو په ټولو گران و ، نود کینوبدلون دوی ته لویه بدبختی ښکاریده دوی ویل : په دې ښه ، ښکلی ښځی جاناوپه دې ښکلی کوچنی کویتو باندی به څه راسی ، دا به یوه عجیبه پېښه وی که چیرې دوی ددې سرغاړی په واسطه وران ، ویجا ړاو برباد سی .

د کینو اوجانادپاره دا کهیڅ یو د هغو گهیڅو څخه و ، چې ددوی په ژوند کې یوازی د کوچنی دزیږیدلو د کهیڅ سره یې برابری کوله .دا هغه ورځ وه چې باید دنورو ټولو ورځو تاریخی سپد اوگرځی او ښایی دا ورځ دوی داسې یاده کړی: «دا پېښه د سرغاړی تر خرڅیدو وه کاله دمخه و ه ، دا کار شپږ هفتی د سرغاړی تر خرڅیدو وروسته پېښ سو».

جانا چې ددې تاریخی ورځی په لویوالی او اهمیت پوهیدلی وه ، هرڅه چې یې

داغوستلو در لو دل له بخښې څخه يې را وايستل ، کو يتمتو ته يې هغه جامې وروا غوستې چې د غسل تعميد په وخت يې د پيسود پيدا کولو په وخت بايد اغوستې واى.

جانا خپل تور ويښتان پسنځ او بيا يې په دوو بر خو سره پيل کړل دو يښتانو سرونه يې په يوه سره تړانګه وتړل وروسته يې د خپل واده جاکټ اولمن واغوستل.

دوى چې خپل ځان تيار او برابر کو ، لمر هم هسك راپورته سوو، د کينو جامې زړې خو بيا هم پاکې وى او دا د کينو د زړو جامو وروستى وخت وه ، سبا اويا بنايې نن ماسپين کينو نوى کالى وا غوندى .

گاونډ يانو نوى کالى اغوستى تيار ناست وو ، اود کينو دروازه يې د خپلو څېريو د سورو څخه څارله ، دوى د کينو او جانا سره په لاشعورى توګه د سرغارى د خرګيدو د پاره سلګرتيا کوله ، البته دا يو طبعى کار و او دا يوه تاريخى شيبه وه، دوى خپل نه تګ د کينو او جانا سره دنا پوهى اودنه خپلوى نښه بلله .

جانا خپل تکرى په د يراحتيا ط سره په سر کو د تکرى يوه پيڅکه يې تر بنې مټ لاندى تيره کړه چې د کو يتمتو د پا ره ځاى بر ابر کړى او کو يتمتو يې هلته ځاى په ځاى کړ ، ا و د تکرى هغه بر خه چې د کو يتمتو څخه يې نيولى وه لرى کړه ، تر څو چې هر شى ښه ووينې او که چېرى سمکه وى چې په يادې وساتې. کينو خپله دبور يالو يه خولې په سر کړه او شاوخوا يې لاس پې راتېر کو چې له سم والى څخه يې زړه ناډه سى ، هسې نه چې ياد شا په خواوى او ياد ارخ په لورى کړه وى. چې کينو يې احتياط، يې پروا او يې ارادى سړى وښيى، اونه بايد داسى هوار په سر

سوی‌وی چې هغه دزاړه سړی غوندی ښکاره سی ،خولې لږځه باید دمخې وخواته کړه وی ،چې کینو دیوی‌سختې اوتینګی‌ارادې، اوزړورسړی وپریښوی .

دیوه سړی دخولې له‌په سرکید وځخه ډېرشیبان اتکل کید ای سی - کینو خپلې کښاوې په‌پښو کړې‌اود کښاووبند ونه یې‌پخپلو پښو راتاوواوو‌تړل.لویه‌مرغلره دهوسې په‌زاړه اوپاسته پوست کې نغښتې اودځر منې په کښوړه کې پرته د کینو د کمیسه په‌حبیب کې ځای په‌ځای‌سوی وه .

کینو خپل ځادرپه‌ډېر احتیاط سره غبرګ اوپخپله کینه او په‌یې اوار واچاوه . اوس نوتلوته تیا رو .

